



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمان الرحیم


د چاپولو حق یې له لیکوالې سره دی

دکتاب نوم .... افغانۍ رنځوره

لیکواله شفا ءکاکړه

دچاپ شمیر (۱۰۰۰) ټوکه

دچاپ کال جنوري ۲۰۱۵ع

کمپوز عبدالقادرمجرم

بیه ۲۰۰ روپۍ

خپرونکی : هیواد ادبي یون کلا سیف الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

زه خپله دغه د لنډو کیسو ټولګه خپلو ګرانو ورونو محمدګل مینه وال ، محمدنور روښان، غلام قادر سارنګزئی او غلام سرور سارنګزئی ته ډالۍ کوم چي هر وخت يې زما مرسته کړې او هر کله يې زما ستاینه او روزنه کړې ده او ماته يې بې حده داد او مینه راکړې ده ..............

شفاءکاکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خپلې خبرې

خبري خوږېخي ډېري دي که چېري زۀ خبروليکلوته کښېنم نوکتاب نه کتابونه به په ډك شي خوزۀ به داهڅه وکړم چې دګرانولوستونکووخت په خپلوخبرو وانخلم .
زۀ منم چې زۀ نه يوښه ليکواله ، نه افسانه نګاره يم ، کېداى شي چې ډېروخت مي پر دغو سترګې پټې کړي هم وي خواخر هغه وخت هم راغلی چې زۀ يې پردې مجبوره کړم چې د ټولنې رنځونه او دردونه په خپله ماته ګډه زدکړه د لستونکو تر لاسونو پوري ورسوم ، دا هڅه مي وکړه چې په کومو رنځونو زموږټولنه اخته ده ، کوم څه چې به ما وليدو يا به مي له چا څخه واورېدل زۀ هروخت خپل ضميرپردې مجبوره کولم چې دابوج له ځانه لېري کړه ،
په ډاګه نارې کړه چې دارنځونه اودردونه به موږترڅوځغمو راشۍ چې ټول خپله ملامتياومنواودې خپلي رنځوري ټولني ته مخ ورواړووپه کومه کښې چې دچادحقوقو،روایاتو،ددين،مذهب ،ثقافت،تهذيب ،اقدارو،ژبي خيال ساتلوورځ ترهغه بله کمي محسوسه وو خلګ دخپلوښواقدارو،روایاتوقدرپرېږدي دپرېدوخويونه خپله وي دخپلي ژبي په ويلوشرمېږي په داسي ټولنه کي به څنګ څوك داتفاق،عدل،انصاف توقع وکړي
په کومه ټولنه کي چي هرسړی دخپل سرباچاوي اوسيالي يې هم له ښځي سره وي دخپلي مور،خور،لوراوخپلي ښځي حق تلفي کوي دې نارينه چي دخپل ځان اصلاح نه ده کړې دټولني به څه اصلاح وکړي اوس که چېري هلك يانجيلۍ يوناواړه کاروکړي بيادرستي ټولني په خولۀ کي داخبره وي چي موريې سم تربيت نه دی کړی دمورغېږاوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

درسگاه ده هومورېمنوچي اوله درسگاه ودي ته بيايوڅك هم فکرنه کوي چي داخواره مورخو نه ده ملامته څنګه په څه حال کي دخپل اولادساتنه کوي يايي وکړي چي ددي وخپلوغوښتنواواختياراتوته لاس رسی نشه چي له دي سره ددي په تعليم کي فرق کېږي هغه که ديني وي که عصري داځه چي په خوراك څښاك،پوښاك په ورکولوددي په مينه اودجائداد نه وکولوکي لاهم فرق ښکاره دی

دايوه زۀ نه هرڅوك مني چي دمورغېږاوله درسګاده نوبياراشی چي پردي حقيقت هم سترګي نه کړوپټي اول مورپه ديني اوعصري علوموپه زېوروپوښودا اختياروركړوچي دادژوندپه هرارخ خبره شي نوددي اولادبه صحت منده هم بښعور وي که نه وي نوبه يي حال هم دغه وي لکه اوس چي پرپيرانوملايانوډاکټرانويي نفس وخېژي خوبياهم علاج نه کړي پيدا

دډاکټرومريض ته سترګي ختلي وي دپيراوملاوتورپسه ته اوخوارني ښځي په دي شرمېږي وډاکټرته خپلۍ ناروغی حال نه شي ويلای

هم دارنګ زمورړوښځوته له خپله داسه ورپېښه ده که خوښي وي که يور اوکه مړوروي چي دخپل حق غوښتنه کوي نوهغه بله ورته وای چي خورجاني پرخولۀ لاس ونيسه دادپښتنومتل دی وای (دلوراوخوردنياجوړه شوي ده روانه شوي نه ده)که چېري بياهم يوه ښځه دروانېدلوهڅه وکړي نوهغه وخت کيسه ترکيسه تېره شي راشي دخلګوخولوته ولوېږي بياخوخپله ټولنه وموږته ډېره ښه معلومه ده

کله چي يوازي شم واخدای ته داخواست وکړم چي زمورډټولني ورونړاوخويندوته دومره وس ورکړي چي خپل حق وپېژني اوپرداسي تعليم يي مخ شي چي دټولو پښتنو،مسلمانانوپه ګټه تمام شي زماوهرپښتانه مسلماوورته دابرخه ورنصيب کړي چي دخپلي مور،خور،لور،ماينې حق تلفي نه کوي په شرعي اوقانوني طرزخپل حقوق ورکوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس ستاسوپام دې ته رااړوم چي مادخپلواولنیوافسانو ټولګه چي د(افغانۍ رنځوري) په نامه ده ترخپله وسه کوشش کړی دی که څه کمي اوېشي په کښېوي نوله لوستو نکو بخښنه غواړم له بدمرغه چي زموږخپله مورنۍ ژبه پښتوسمه زده هم نه ده

اوس که دلته دعبدالقادرمجرم صاحب یادونه،نه کړم وه نوبې انصافي به وي چي دی له کلاسیف الله څخه کوټي خاص کالج ته راغلی ماخپلي لنډي کیسې ورکړې ده زمادومره حوصله افزی وکړه چي زمازړهٔ داغوښتو چي داکتاب نن،نن چاپ شي سباته نه شې پاته داسي هم نه چي مجرم صاحب دازماکتاب کمپوزکړی دی بلکه له دې سره سره یې زمارینمائي هم کړې ده

په اخیره کي زهٔ پښنه یم که مي څه هم په خپله مورنۍ ژبه کي زدکړه نه ده کړې خوله پښتوسره مینه لرم داهڅه به کوم چي ترڅومي وس وي دخپلي مورنۍ ژبي خدمت به کوم نوره به هم له خدایه پاکه دا دعاغوړم چي نوري پښتنې مېرمني له خپلي مورنۍ ژبي پښتوسره مینه وکړي

په درناوي

*شفاء کاکړه*

ډګري کالج کوټه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د قبر ځانګو

انارګلۍ په څو څو واره حال ور تېر کړی چې راشه زۀ درسره ځم ـ
هغه د چا خبره " د مېړۀ يې په ايمان پاستی نه غوړېدو" ـ
يو ماښام چې لمر ولوېدو، ښه تياره شوه ـ دا د بابا او مورکۍ له کوره غلې غلې راووته، مخه يې وکړه ، د مېړۀ د کور په خوا روانه شوه ـ پر لاره دېره وار خطا روانه وه ـ کله به يې شاته وکتل ، کله به يې پر لاره يوې او بلې خواته کتل ـ له شا يې په دې کتل چ ې بابا را پسې رانه شي ـ
يوې او بلې خواته يې په دې وار خطا کتل چې د سحر وړي لېوان يا پر لاره بل يو څوك رانه شي، تر لاس به مي ونيشي د پلار کور ته به مي بېرته بوځي ـ
د مېړۀ کور ته چې ورسېده ، د دوو خونو تر مخ چې يوه د بوټو کوټه پروته وه، وهغه ته يوګړۍ کښېنسته، شا و خوا يې وکتل ـ چارد بوالي نه وه ـ که څه هم يخ وو خو دې له وارخطايي او منډو خولې کړي وې ـ
له يوې خوا که وېره ور پسې وه ،له بلې خوا يې په خونه کي خبر ې اورېدلې ـ پلاروخپل زوی ته ويل ته پرکورناست يې مزدورۍ ته نه ځې پېغله ښځه دي دبل پرکورناسته ده ـ په دې يې تسلي وکېده چ ې څوك به را ووځي ـ
يو وخت دروازه خلاصه شوه ، له خونې يو سړی راووتو،دې ټوخ وهل ـ سړي يې له بوټوسره سايه وليده ـ ږغ يې باندي وکړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مورکۍ ، جمالي يو جواب نه وو۔

" څوکه يې؟" -

سوکه سوکه ور ننډدې شو " ولي ږغ نه کوې، څوکه يې" -

بېرته غبرګ شو۔ دې داسي محسوسه کړه " سړی ووېرېدو ۔ داسي نه وي لږکی ياکاني ته لاکړي له واره به دي وولي" -

سړی چې تر دروازې ورغلی په خونه يې سر ور دننه کړی " مورې! ته راشه زموږ د بوټو له کوټي سره يوه ښځه ناسته ده ګوره چ ې ښځه ده که لابله بلاده" -

مور يې له خونې لالټين په لاس کي له نورو دوو کسانوسره راووته ۔ دې چې دا ناسته وليد ه ټول وجوديې له يخ او وېري رېږديدو ۔ دوی که به هر څو ووېل

" څوکه يې؟" -

د دې له خوا جواب نه وو۔

" ښځې! ټدا ښځه تر لاس ونيسه، خونې ته يې در وله، ښۀ اور ور بل کړه ۔ يخ به وژلې وي بيا به په کراره حال حوال ځيني وکړو" -

ښځې يې تر لاس ونيوه ولاړه يې کړه ۔ دوی ټول بلې خونې ته لاړ ۔ ښځه چې يې دننه اور ته کښېنوله ، ويې پېژندله چ ې دا انارګله ده ، زما او ستا مړور۔

خسر يې وبالښت ته پروت را جګ شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

" ښځې! دا ځۀ وايې ـ دې خو ما او پلار دواړه په شرمو وشمولو ـ خير ته چای، ډوډۍ ور لکړه، اور ته يې کښېنوه چې يخ يې له زړۀ ووځي ـ زۀ سوچ پر کوم " ـ له دواړو زامنو يې صلاح کوله
" ځۀ په کوو، بېرته يې د شپې ور ولو که........"
مشر زوی منور " بابا! دې ښځې وماته په ځو ځو واره حال را تېر کړی چې راشه، زۀ در سره ځم ـ ما سر نه خلاصاوو ـ اوس چې په خپله راغله اوس نو سوال نه پيداکېږي چې بېرته خپل کور ته لاړه شي" ـ
" بيا ځۀ کول په کار دي؟" ـ
" بابا تر دې ښه خبره نشته چې دلاور ور ولېږو،پلار ته يې حال ور کړي چې انارګله زموږ کور ته را ورسېده" ـ
دلاورکوټ په غاړه کړی، څادر يې پر سر تاؤ کړی،له يو غټ لرګي سره روان شو ـ
سهار يې ملا را وستو د منور او انارګلې نکاح يې وتړله ـ دواړه يو پر بل دومره ګران وو ـ هغه د چا خبره لکه (مجنون او ليلا) ـ يو کال لا نه وو پوره چې منور د دوو موټرو د ټکر په حادثه کي په حق ورسېدو ـ
انارګله داسي ځه بې چارې غوندي ښکارېده (نيمه لېونۍ)چې د کلي يو ښځه به وراغله، دې به خپل تندی ټکاوه " زما دي نصيب تر خاورو لاندي شي ـ يوار خو پېغله وم د پلار پر کور مي کلونه وشو،ناسته وم ـ په دوی ولور نه جوړېدو ـ چې بې شرمي مي وکړه، پېغورونه مي پر ځان يوړو، هغه دا دی کال لا نه دی پوره دی مړ شو" ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو کال پس يې ودې بل زوی ته کښېښنوله . هغه يې دوه کاله پس يوه لور وشوه . چې پيدا سوه له هغې ورځې يې خولۀ وازه نيولې وه چغې يې وهلې خولۀ يې نه سره ورتله . تمامه شپه او ورځ به دا او خوابښې ورته ناستې وې .

په څو څو واره يې مېړۀ ته وويل " سړيه! دا ماشومه ډاکټر ته يوسه، دا خو چې پيداشوې ده چيغې وهي، خولۀ يې نه سره ورځي" .

"ښځې! بابا ته ووايه چې يويې شي، زۀ يې نۀ وړم" .

" ته نه شرمېږې چې په سپين ږيري پلار يې وړې . ته به اوږدې پښې کور پروت يې" .

" تۀ عجبه ښځه يې سر نه خلاصوې چې يويې شم په خدای که په خپل کور کي د بابا او مورکۍ له پېغورو ځان خلاص کړم . راته وای به تۀ خو هغه يې چ ې د اولو دوو مياشتو لور دي په غېږ کي واخيسته ډاکټر ته روان شوې".

" سړيه! زۀ څۀ په وکړم . هغه مورکۍ خواره را سره په عذاب ده . بابا ته مي په څو ځواره ويلي دي دی وای"د ماشوم د پاره ژړا ښه ده ، په خوانو ښځې يې ژړا ښه ګڼله ". مورکۍ خواره کله د شپې پرکوروسمه شي ده اووه دروازو خاوره راوړي مالګه ،سره مرچ ور سره ګډ کړي، په اور کي يې واچوي . کله پر هګۍ زرغون سپنسی تاؤ کړي په اورکي يې پټه کړي . کله يې د ماشومي وسرته په کاسه کي اوبۀ يښني وي ، سکروټې را وا خلي په کي وژني يې . کله نوښادر(خورې)په اورکي واچوي چې هغه جوش وخوري ، دا يې را وکاږي بيا ورته ګوري وای

(c) ketabton.com: The Digital Library

لورې دا زما په خیال نه نر،نه ښځ ې نظرکړې ده ،دابه وي اسر ـ خواره سپېلني راوړي ورته لوګی یې کړي" ـ

"ښځې! په دې سر خلاص کړه که سپېلني ورته لوګی کو ي ،که سپېرکی. ماته چې بله ورځ رانه شې او نه داخبره راته وکړې ـ خدای دي وکړي چې دستي مړه شي" ـ

شپه انارګلې او خوابنې ورته تېره کړه ـ سهار خوابنې، پلار او زوی دواړو ته ښېرې کولې چ ې ماشومه یې په غېږ کي واخ یسته ، انارګله ور پسې شوه چې کله د ملاصاحب کور ښکاره شو، د دهٔ د کور له شا لوړ د غرهٔ په لمن کي د هدیرې دسمالونه رپېدل ـ

د ملاصاحب په کور ور دننه شو، انارګله او خوابنې د ماپښین لمنځونه د ملاصاحب په کور کي وکړو ـ مورا چای راوړې ، دومره خوندیې وکړو چې انارګلې داسي محسوسوله چ ې ما کله هم پر چای دومره خوند نه دی اخیستی ـ د چای له خوړلو وروسته د ملاصاحب خوښې ته ورغلې، خوابنې د ماشومي کیسه ورته وکړه ـ

ملاصاحب له دم او تعویذه وروسته وویل " په ښه ورځ راغلاست ، نن د زیارت ورځ ده، سبا له جمعه ده ـ داسي به وکړئ زیارت ته به ورشئ ،هغه تر ټولو لوړ چې په غونډي کي پروت دی هغه زما نیکه دی ـ تر نیکه لږ را لاندي زما بابا پټ دی ،له هغه وروسته نوره هدیره ته دعاو کړئ".

انارګله او خوابنې چې د ملاصاحب د کور شا له راغلې ـ یو نری کږه وږه لاره د ملاصاحب د نیکه او پلار قبرونو ته تللې وه ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

انارګلۍ له خپلې خوابنۍ ماشومه په خپله غېږ کي واخیسته ، په زحمت وختلې ـ که یې څه هم خوابني په لاره کي یو وار دوه کښېنسته، د ملاصاحب نیکه او پلار ته یې دعاګانې وکړې ـ یو څو کانې یې له یواو بل قبر څه را واخیستو ـ

خوابنۍ ورته وویل " لورې! ته ماشومه وماته را پرېږده، زما اوس ډېره سا سمه شوه ـ سوکه سوکه در تویېږم (کوزېږم )د ملاصاحب د خونو شا ته درځم، ته به هم راشې ـ اوس دلته لنډه ور توي شه، په هدېره کي به وګرځې هغه راغلې ښځې به هم ووینې".

انارګله هم له هغه ځایه په قبرونو کي را روانه شوه ـ په قبرونو کي یې شا او خوا کتل، پر چا غنم خواره ، پر چا مات بنګړي ،پر چا ډېر تعویذونه پراته ـ یویې سلګۍ تر غوږ شوې چې شاته یې وکتل ،یو تازه قبر چې ډېره سپین سر ې ښځه ورته ناسته وه ، ژړل یې ـ دسپین سرې خواته ورغله، ورته ودرېده ـ

سپین سرې سر را پورته کړی، له اوښکو ډکې،تکې سرې سترګې یې دې ته ور واړولې ـ داسي ښکارېده چې د دې هم نور د ژړا آن تمام شوی وو ـ دې ته یې پورته کښېنته حېران حېران کتل ـ

" لورې! له کومي خوا راغلې ـ ته خو صفا زما ونازکه لور ته شوې یې ـ هغه ډول نری جګه، ژړ مخ، جګه پوزه، تور ګڼ وېښتان ـ د دې مخ لږ ستا تر مخ غوښن وو" ـ

انارګله " مورې! څه په وشو؟" ـ

"لورې! لس ورځې یې کېږي چې وفات شوه".

(c) ketabton.com: The Digital Library

" مورې! څۀ ناروغي يې وه او د څو کلو وه" .

"لورې!د اوولس،اتلس کالو. په دولسم کي يې سبق ويلو . يوه ناروغي يې نه وه، زهر يې وخوړل".

مورکۍ بيا په ژړا شوه . هلته د انارګلې تاځيله وه چې خوابښې به مي انتظار کوي چې مورکۍ لږ کراره شوه ، انارګلي بيا په تاځيله څو پوښتني ځيني وکړې .

"لورې! ورونو يې مړی وکړی . يوار خو له ځايه بې ځايه شو . څو کاله مو له يوه او بله خانه سره مېني کولې . ورونه يې دوه په جېل کي وو ، يو او بل مو ور لېږلو هغه ننواتي پرکولې چ ې يو ډول روغه راسره وکړي . په څو څو واره خلګ ورغلو، هغو يو کاڼی له بله مات کړی (ترخپله خبره نه تېردل)موږ ښځه غواړو . که ښځه نه وي موږ روغه نه کوو.

دې خوار ې هم ډېر تور سرونه، د خدای رويونه ،د قران رويونه وګرځول، ما په ډنډ کي مۀ ورکوی .چې زاری يې د خدای په در نه شوې قبولې ،د پلار او ورڼو په در کي خو سوال نه پيدا کېږي چې قبلېدې به .

اخر يې پلار او ورڼه مجبوره شو،جوړه يې ورسره وکړه . په ډنډ (په جوړه يا نېکي) کي يې دا ور کړه، څو لکهه روپۍ . لور خو مي ځان د تورو خاورو شومه کړه،پلار او ورونه يې په نوی غمه اخته کړو . اوس يې ګوره چې پای پر څه تمام شي . پلار او ورونه خو يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نوي غم اخته شو،دا يې هېره شوه ـ زما خو د مور زړۀ دی زۀ يې ښکنګه هېره کړم" ـ

انارګلۍ چې وخوابښې ته وکتل، خوابښې يې د ملاصاحب د خونو شاته ناسته وه ـ په تاڅيله په قبرونوکي راروانه وه چې يوه قبر ته يې وړه ځانګو وليده چې ژړدې ورغله ورته کښېنسته وې ويل " پخوانو څومره ښۀ ويلي دي چې لرې يې هم غم دی چې نه يې لرې هم"ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دليك جواب

بسم الله الرحمان الرحيم

زما وړوکې خورکۍ سلامونه!

هيله لرم روغه جوړه به يې - ليك دي راورسېد و، له ليکه دي څه داسي ښکارېده چې پرېشانه يې - خورکۍ زۀ پوهېږم چې په دې بې ادبه،بې شعوره مع‌اشره کي د ښځو ژوندګران دی - دلته له خلګو دا هېر دي چې ښځه ته د مور،خور،لور په نظر هم کتل کېدای شي يا کتل کېږي - تۀ به د دې مقابله کوې - زما او د مورکۍ ارمانونه به له خاورو سره نه خاورې کوې، لکه عصمت ورور-

ستابه په ياد وي چې مورکۍ به د بل کور ته مزدوری له تله، ما او تابه دی په سکول کي ګرځاو ۀ - مېړم به هره ورځ راته ويل "تاسو دا ماشوم را ولی، تمامه ورځ يې په غېږ کي ګرځوی - له خپله سبقه مو ځان يستلی وي " - بياچې خدای

(c) ketabton.com: The Digital Library

دومره کړی چ ې په خپله سکو ل ته تلی ، مورې څومره خوشاله وو۔

چې کله یې لسم پاس کړی ، هغه ورځ خو به دې ښه په یاد وي چې زموږ په کور کې که اختر ورځ نه وه نو تر اختر لږ هم نه وه ۔

زما ګرانې! ګوره ګوره چې د مورکۍ هغه سختر ې، د بل د کور مزدورۍ چې مورې ته به یې د بل د کور زړې جامې، سړې ډوډۍ راوړې، ځان یې نه په شرماوو، په موږه یې سبق ویلو۔

زما ګرانې! پښتانۀ وای "طبیب هغه دی چې پر ورغلي وي" ۔

زماګرانې! زۀ پوهېږم چې ته به هم له دې مشکل سره مخامخ یې ۔ د دې مقابله به په ژړا نه،په ځاېږه کوې ۔ ته به نه یې خبره چې اته (۸) بجې کېږې ،زما ډیوټي ختم کېږي بیا به هم د بل ملګر ې تر را تلو زۀ په انتظار یم چ ې کله هغه خپل شیفټ ته راشي ، زۀ خپلې کمرې ته لاړه شم ۔

دورې ښه وسوچونو ته خلاصه شم ۔ هغه ورځې و شپې را په یاد شي، د بابا د سالنډۍ ناروغي ۔ د څه کار کول نه وو ، مورکۍ د خلکو د کورونو کارونه کول ، لوښي ، جامې یې وینځل، ډوډۍ یې پخولې ۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

په موږه سبق ویل و، زما او ستاحقیقي مینه ، یو نه ختمېدونکی محبت، تقدیر په هغه غېږ کي ځهم لویه کړې ، په کوم کي چې یې زۀ لویه کړې وم ـ اوس که څه هم بیاتقدیر سره جدا کړي یو ، زۀ یې ستا د پاره او ځیې د خلګو د خدمت د پاره ـ

خو بېلتون مي کله کله په کړس کړس وخندوي ـ په سوچونو کي ستا له ځنګه ناسته یمه چ ې کله د سوچونو له دنیا را غبرګه شمه، په کړس کړس مي وژړوي ـ

ځخبره یې چې د ژوند دا سترې ورځې ،لوړې ،د وېري شپې په دې تېره وم چ ې ته ډاکټره شې، سرکاري نوکري مي لا تر اوسه پیدا کړې نه ده ـ پیدا کېږي که سفلرش ،روپۍ یا د ځان تر عزت تېره شم ـ سفلرش ،روپۍ لرم نه ،د ځان تر عزت تېرېدای نه شم ـ

خورجانۍ! ځخبره یې، زۀ دا ټولې سختې ستا د مستقبل د پاره تېروم ـ له ماسره د ځنګ په کمره کي دوې نورې نرسانۍ اوسي، کله کله راته ووای "ګلالۍ تۀ راځه ډوډۍ به ګډه خورو" هغه خوارې په دې څه خبر ې دي چې دا وږې وید ېږي ، روپۍ نه خرڅوي ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

زۀ سهار ښۀ وختي له کمرې راو وځم چې پر سړک ودرېږم د بس د راتلو په انتظار کي ولاړه یم . د هوټلونو د هګیو،پراټو ښۀ بوی مي ببېخي ډېره زوروي . کله کله خو دومره بې صبره شم له ځانه سره ووایم چ ې ور شم ، ښې ډېرې پراټې او هګۍ را واخله، ښۀ ځان په موړکه . بېرته پښېمانه شم ،کور ناروغه پلار ، د مورکۍ د بل د کور ومزدوري، نشړېږي ورور او ستا مستقبل را په یاد شي . په دې کي بس را شي ز ۀ هغه ډول ورېږې ور وخېژم په بس کي په دې سوچونوکي ورکه یمه . دا ښې دي چ ې د سړکول نجونه او زۀ له ډېره وخته په یو ۀ بس کي سره ځو .

اوس ټولې نجونې په دې خبر ې دي چ ې دا پر دې هسپتال کښته کېږي(کوزېږي) چ ې زما د کښته کېدو ځای راځي دوی، راباندي ږغ کړي "مېډم ستا د کښته کېدو ځای را ورسېدو" .

په هسپتال کي به تر ما و تا ته ښه معلومه وي چې د نرسانو کوم حېثیت دی . نارینه ډاکټران او نور استهاف په کوم نظر ورته ګوري . یوه ورځ چ ې ز ۀ ورغلم پر ریسپشن ناست

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملګري چای څښلې وې ،بل سګرېټ يې په لاس کي وو ، په چوکۍ کي داسي پروت وو لکه يو ډېره لويه هستي .
ما و هغه تختۍ ته لاس ونيوو چ ې پر ليکلي وو (تمباکو نوشي منع ده) شاه جهانه! دا څۀ ليکلي دي .
دۀ کټ کټ وخندل . "ګلالۍ! ته خو لېونۍ يې ، په دې ځای کي کم داسي کار دی چي هغه نه کېږي" .
زۀ تر تېره شوم، وارډ ته ورغلم. پر ډيوټي ناسته ملګرې مي رخصت کړه .
زما له وخته داعدت وو چ ې ډيوټۍ ته به ورغلم ، يوار مي ټول وارډونه را کتل . په دې ورځ هم پر وارډونو سمه شوم د هر رنځور،رنځوري کټ ته ودرېدم ، پوښتنه. حال احوال به مي ځيني واخسيتو . په دې پوښتنه، حال احوال ،رنځور، د هغه قريبان ډېر خوشاله کېدو .
بېرته راغلم د سر په وارډ کي مي خپله ډيوټي شروع کړه . زۀ په خپل کار بوخته وم ،په دې وخت ز ۀ له يوې افغانۍ رنځوري سره پر څنګ پراته بېنچ ناسته وم . مورې! تاسو څۀ غواړۍ چي له افغانستانه څه دلته د علاج د پاره راځۍ ، دا ظاليمان مو شکوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

"لورې! زموږ په حال او وطن دي خداى مهٔ خبروه" .
د سهار لس نيمي (۱۰:۳۰) بجې به وې چ ې يو سپين ږيرى کاکا راغلى، ودرېدو . خړ خيرن پټکى ، توره څيري سدرۍ ، سپين خيرن څادر يې په بغل کي نيولى وو . "لورې! په هغه بل وارډ کي دي ډاکټر سيد غواړي".
زهٔ له هغه کاکا سره روانه شوم چ ې ورغلو ډاکټر سيد د کاکاو رنځوره ته ولاړ وو "ګلالۍ! ځدا رنځوره تر لاس ونيسه ،سوکه سوکه يې ډرېسينګ روم ته راوله ، اپرېشن يې ګورو چې خراب شوى خو به نه وي" .
ما هغه رنځوره تر لاس ونيوله ، ډريسنګ روم ته مي ور وستله، پر کټ مي پرې يستله . د پټۍ د خلاصېدو هڅه مي وکړه . ډاکټر سيد وخندل "لېوړۍ! دا ډول اپرېشن ته لاس ور وړل نه دي ښهٔ . ورشه يوار لاس واش کړه". چې زهٔ واش روم ته ورغلم دى را پسي راغلى "ځاوس په اشارو نه پوهېږې".
ښه پوهېږم لېکين ز هٔ چې له کوره راو وتم، مور راته وويل "لورې! د خپل عزت به ډېر خيال ساتې". زهٔ په دې ستا په اشارو سر نه خلاصوم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

زۀ چ ې له کوره را وتم، پلار ر اته وویل چ ې "ښځه دي خوښېده، ورته وایه بیا یې خوښه خپله ده".
"نه په دې ښۀ سر خلاص کړه چې زۀ د عزت په خرڅولو، عزت نه جوړوم". دا ډول یوه خبره دۀکوله او یوه ما. اخر دۀ د لاس د را اچولو ه څه وکړه ، ما چیغه کړه . هغه پر کټ پروته ناروغه را پورته شوه ، له دباندي یو ه نرسه،بل هغه وارډ بووی دننه راغلو،وماته چې یې ویلي وو "په ورور مۀ راته وایه ،نیت مي خراب دی".
"څۀ کیسه ده".
زما ګوته په دروازه کي بنده شوه . دا چا منل، زۀ راووتم استاف روم ته راغلم . په استاف روم کي ناسته وم ، ژړل مي . هغه ډریسینګ روم ته راغلې نرسه چ ې استاف روم ته راغله راته ویې ویل "څۀولاړه شه،نن ستا پر ځای ډیوټي زۀ کوم".
زۀ چې له هسپتاله را ووتم، رکشه ته مي په لاس اشاره وکړه . په رکشه کي کښېنستم ، دې هسپتال ته ځم . په روانه رکشه کي د رکشې والا خبرې کولې"خیر خورې! په هسپتال کي دي ناروغه دی".
هو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

"څۀ په وشو".
ما یې ځواب نه کړو ور . د هسپتال په ګېټ کي رکشه ودرېده، زۀ کښنته شوم، خپلې کمرې ته لاړم. په کمره کي مي په لاس کي راسره وړی کتاب په کړکۍ کي کښېښودو ، راغلم پر کټ کښېنسم، ښۀ په زوره زوره مي وژړل ، په هغه ژړا کي دې سوچونو وړې وم "خدايه! دا دي څۀ ستړی ژوندرا په برخه کړی دی . ناروغه پلار ، مور د بل په کور کي مزدوره، هغه ورور نشيي چې مور ټوله کورنۍ په نازېدو. زۀ په پرېدي ښار کي په يو او بل هسپتال کي مزدوري کوم.
مزدوره وای، مزدوري مي کولای، مزدوري خو نه وه پېغور.
په يو داسي ټولنه کي دي پيداکړې وای چ ې هغه خو لږ مهذبه، باشعوره وای.
خدايه! ز ۀ خو دي په داسي ټولنه کي پيداکړې يم چ ې د خوانده او ناخوانده يې يو فرق ن شته. ډاکټران ، وکيلان،استاذان يې په دې بلا اخته دي، خواهيشاتو تر دې ځايه رسولي دي چې هيڅ هم درک نه ورکوي. هغه پاته يې له پرېدي جنګه نه راګرځي چې راګرځېدلي دي هغه يې په نشو اخته دي".

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته د سوچونو له دنیا را غبرګه شوم، له ځان سره مې وویل د هغو مندو پر غېږو دې لعنت شي چې داسې بچې پکې لویږي .
خورجانې! په دې بې ادبه ،بې شعوره ټولنه کې ژړا نه، ځاپېره په کار ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زۀ په مړي څۀ وکړم

نیمه شپه ده ، سړه دښادۍ خرۀ دي شوه ، تور ګړنجی یې جوړکړی دی،زۀ او ماشومان دي له خوبه ویستلو.
"ښځې! تۀ پورته شه ، ډېرې خبرې مۀ کوه . چای راپخې کړه، زۀ خرۀ کته کوم (ځلوم) " .
"تا دي خدای له خرو خلاص کړي . هم دي وماته،هم دي ځان ته ګورم اچولی دی . هرهشپه پرسپېدو روان یې، یوه زۀ دا بوټي سوځم ،که یې د کور نورې ښځې هم سوځي . نورې به ښې بې غمه په خوب ویدې وي . یوه زۀ خواره به هره شپه پر سپېدو راپورته کېږم ». دوه درې واره یې له ځانه سره داسي ووئیل . د ۀ اورېدو، یوه ز ۀ خواره به راپورته کېږم ، منډې به وهم .
"ښځې! نیمه شپه ده ،خلګ مه را خبروه، خولۀ ونیسه . که درغلم بیابه دي د خیر سړي ته سترګې وخېژي ".

(c) ketabton.com: The Digital Library

دابیاله ځانه سره وګوښېده ـ دی چې په دروازه کي ولاړ وو- یو ګوټ یې په پښنه کړی وو ،هغه بل ته یې لاس کړو " ځه بیا ریښتیا که د پلار لور یې خولۀ وخوځوه"ـ

پوه شوه چې زیاته کار خرابېږي ـ ولاړه شوه ، پر انګېټۍ یې چائینکه کښېښووه ـ کوشنی زوی یې را پورته شو و چغې یې وهلې ـ هغه وخت بجلۍ نه وې ، په څراغ یې ګزاره کوله ـ سړی دباندي وتلی وو-

له لږ ځنډېدو پس دا راغله ، په دروازه کي ودرېده ـ سر یې دباندي ورښکاره کړی، تکه توره تیاره ،چوپه چوپتیا- امیان څۀ کوې، ملایان به لا ویده وو ـ یو چرګان ویښ وو ، وزرونه یې وهل، اذانونه یې کول ـ

په دروازه کي ولاړ ه ، په دې سوچ کي ورکه وه چ ې " دا لېورونه مي وګوره ، ښې نوکرۍ لري ،یو په لېویز کي بل په جنګلات کي ـ دا زما خوار سړی وګوره چ ې ټول ژمی بوټې راوړي چې د کور بوټې پوره کړي بیا یې کلیوالو ته په بیه راوړي اوس یې خوا ځکه په بد ېده چې ډېر کمزوری وو-

چې ژمی به تېر شو بیا یې له خلګوسره په کروندو کي کارونه کول ـ مځکې یې ماتولې ، ښاخ تراشي یې کولې ، پر کور نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښېنستو". چې کله خپلې ښځې بانو دا خبره ورته وکړه "سړیه! ته دا څۀ کوې چې روپۍ ګټې چې له کشره دې مشر جوړ کړی دی، ومشر ورور ته یې ور کوې".

حمیدالله چې تر دواړو ورونو مشر وو، ورته غصه شو "ښځې ته د دې د پاره هر وخت وماته دا درس راکوې چې زۀ له ورونو څخه وېش وکړم".

"یا مۀ یې کوه. ته په دې خلګو کې لاړ شه، وګوره چې یو بل څوک هم شته چې میانیځ ورور یې مشر کړی دی که دا یو ته یې".

یوه خبره حمیدالله کوله بله بانو چې تر دې ځایه سره ورسېدو. لرګی ته یې حمله کړه. د دوی دوو په دعوه ټوله را ویښ شو. ماشومانو چغې وهلې. زما په خیال اخر دی هم په دې چپ شو، لرګی یې تس کړو (وغورځاوه) چې ورونه او وربنداروګانې را خبرېږي. پخې چای یې پرېښودې، په پټو (څادر) کې غوټه ډوډۍ یې واخیسته، روان شو.

دې خپل ماشومان کرار کړو، پاته پخې چای یې دوی ته ورکړې. د بانو ټوله ورځ پر ځان نیت بد وو چې څۀ دې کاوۀ، ټوله ورځ سترې ستومانه وې. تر هغه وخته په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوچونو کي ورکه وه چ ي کله دی راورسېدو . دا مخ ته ورغله، د نورو ورځو په شان يې په دې ماښام هم اوبه مختته ور وړې. بارونه يې ور سره کوز کړو.
دۀ له بدنئ ښخه ښه اوبه وڅښلې . په پاته اوبو يې اودس تازه کړو ، ماجت (جومات)ته لاړ . له هغې خوا را روان وو ، بانو په خرو اخته وه چ ي په خونه يې دننه کړي . خرۀ يو هم دننه نه تلو. خرۀ هر چاته معلوم دي چې ودرېږي بيا نه پرمخ ځي، نه پر شا. دی ورغلی "ښځې څۀ په کوې ".
"سريه! ستادي دښادئ خره شي خو نفس را وکښو. په خونه ئۀ ننوزي". دۀ وخندل "ښځ ې! ئۀرا دوري شۀ چې زۀ يې د بل وخت د پاره چل در زده کړم".
چې بانو را لېري کېده، دۀ بيا د خرۀ شل ودروازې ته کړې وه . خر يې تر غوږو راکش کړو ،هغه شا ته زور کړو ، درب يې شو چې د شا پښې يې ژوره خونه ته ولوېدې.
حميدالله "دايې دننه".
بانو له خندا شنه شوه "ودې ته به د شيطان هم فکر نه وي چې دا خر په دننه شو. هغه بل خر په مرضي خونه ته دننه شو ،حميدالله او بانو دواړه په خندا کي د کور خونې ته سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلو. ورغله میانیځه یور یې ودېګ ته ناسته وه ، په کاسه کي یې څه هغه پوخ شوی شی ور واچاوو. څۀ ګرمه او سړه ماته ماته ډوډۍ یې هم ور کړه چې راتله وړې لور (شاه بي بي)یې دوی ته لاس ور منځلي وو چې دسترخوان هوار شو ، ډوډۍ یې د یو بل مختته کښېښوده . د دۀ وه سړه ماته ماته ډوډۍ ته پام شو "ښځې! دا ډوډۍ سړه ماته ماته ولي ده ".

دې ووئیل " سړۀ! نن سړه ډوډۍ ډېره وه ، موږ ستاسو د پاره ګرمه ډوډۍ پخه کړه ، موږ ځان ته سړه".

شاه بي بي " یا بابکه! مورکۍ دروغ وای ، دوی وموږ ته هره غرمه سړه پاته ډوډۍ راکوي . هسي مورکۍ وای پر خولۀ لاس ونیسی بابکه ته م ۀ وایاست . بابك سترې ستومانه وي". چې د سترخوان ټول شو . سړي ورته وویل "ښځې! داشاه بي بي رښتیاوای ".

بانوخبره دلې دوري کړه ، اخر یې مجبوره کړه چې ورته وواي "هو سړۀ! چې د دې کور نورې خبرې درته وکړم ، دا ډوډۍ به دې په هېره شي".

"ښځې! تا اول وماته ولي نه ویل".

(c) ketabton.com: The Digital Library

"سرې! چې درته ویلي مي وای تا  نه منل، نه زما د ویلو فلئیده وه - یوه ورځ مي درته وویل سرې ه! داروپۍ له ځانه سره ړده - د ورو ړه څۀ په باور ده، یو ورځ به وېش درسره وکړي بیابه په ځان حېران یې - نه دي دي اوربدلي وای چ ې د ورور لاس له کاسې در څخه وخېژي تربور شي - تا څه کي راپرېښودل، په هغه دي دومره پوچ  رد راته وویل - اوس درسته میاشت وشوه، هره ورځ ورته وایم لالا دا شاه بي بي ناروغه ده، ڼڅ یې یو ډاکټر ته یوشه - دۀ خو اول ویل "ښځۀ دی چې تنخوا وا خلم"- اوس چې بیا ورته ووایم دی وای "تنخوا مي ټوله وپوروړو ته ورکړه ،خو ڼڅ یې وینې چ ې دا دومره کور راپسې دی"-

"ښځې! زۀ به که خیر وو سبا له مولوي جبار اخوند څه تعویذونه ورته راوړم، تر هغو به ګزاره په کوي چې زۀ یو څو روپۍ پیدا کوم چې دۀ پر خرو بارونه راوړل پر کلیوالو یې خرڅول - زر دوولس سو وه روپۍ یې په جوړولې ، تر هغه وخته شاه بي بي له پښو ولوېده -

لنډه داچې یو سهار له کوره راووتو ،حمیدالله او بانو شاه بي بي په وار په غېږ کي اخیستـه، تر هغه چې بس ته وختو-

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بس کي منشي پر   یو سړي ږغ وکړو   " کاکا !ځدې بلې
چوکۍ ته را   شه ،ستا   له زنانې سره به دا   بله زنانه هم
کښېني". هغه کاکا   ولاړ شو   ،بانو   ورغله له هغه بلې زنانې
سره پر چوکۍ کښېنسته، د دواړو مخونه پټ وو. په بس کي
شاوخواځه کوې ، بانو پر   ځنګ ناستې ښځې ته مخ نه ور
اړاوه.
شاه بي بي په تکلیف وه ، کله به یې خ ه ویل ، کله ځه . دې
وشاه بي بي ته تسلي ورکوله   " لورې! بس ته لږ   ګزاره
وکړه، رسېدلي یو . ډاکټر به دوا در کړي که خیر وو دستي
به جوړه شې".
پر ځنګ ناستې ښځې یې ږغ وپېژندلی مخ یې ورواړاوو
"بانو یې؟".
"هو،ځځوکه یې".
"خورې!زه رنګینه یم".
"کومه رنګینه؟".
"د پروینې خور".
"ښه".

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پټ مخ یې روغبړ سره وکړو ـ بانو حال ځیني وکړئ " ښهٔ ښکه یې، ژوند دي ښکه دی".

" له خپله ژونده ډېره خوشاله یم".

د پروین پوښتنه یې ځیني وکړه ـ د پروین له توره بخته یې داسي خاوري بادولې ـ " د پروین دي دا اسي تندای خاوري وخوري ـ دا خو تر ما کشره ده چې دا پیدا شوه، مور مې د دې تر پیداکېدو یوه شپه وروسته مړه شوه ـ کال پس مو پلار مړ شو وتاته ښه معلوم ده چې مور و اکا ته پاته شو ـ د اکاپه کور کي مو سختري وړې، تر هغه چې زهٔ وادهٔ شوم ـ زما ډېر ښهٔ ژوند وو، هره شپه به ولوی خدای ته په زار ی وم چې نه وپروینه ته هم داسي کور ور په برخه کړې چ ې په کي مطمینه اوخوشاله وي ، دا زما په رنګه خوشاله ژوند تېره وي ـ د دې چې له چا سره وادهٔ وشو، هغه د ملا زوی وو ـ په خپله هم ملا وو، دوه ورونه یې نور هم ملایان وو.

هغو دوو هم خپلې ښځې راوړ ې وې، بېرته یې پرې ایښې وې ـ دا زما اخښي هم لکه خپل وروڼه یو کال پس دې ته طلاق ور کړی ـ دا بېرته د اکا وکور ته مجبوره شوه ـ یو څهٔ وخت پس زما اکا زما د اخښي پر تربرو خرڅه کړه ـ واخښي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته يې در ې لکهه روپۍ ورکړې . اوس نو هغه تربرونه زما واخښې ته تل پېغورونه ورکوي . وای څنګه مو د پښو ماڼه در څخه ماڼه کړه".

"تا له پرويږې بوښتنه وکړه چې پېښه څۀ وه؟".

"هو ځيني ومي کړه . هغې وئيل مور يې ډېره خرابه وه ، اوس د درو سره په ړيرو کي سپين وېښتان دي ، ښځي ثوك نه ور کوي . ټول ومور ته ښېرې کوي وای مورې دي خدای له موره خلاص کړي ». بس ودرېدو حميدالله رېغ وکړو "بانو راځه ".

بانو رنګيږې "د خدای په امان".

"په مخه دي ښه، وپرويږې ته دعا کوه".

شاه بي بي يې وده ته ورکړه ، دا ور پسې شوه چې را کوز شو ، په رکشه کي کښېنستو ،هسپتال ته ورغلو . له يوه او بله يې بوښتنه وکړه . "کوم ډاکټر به ښۀ وي".

اخر يوۀ ورته ووئيل "ډاکټر نظر ښۀ دی".ورغلو د ډاکټر ودروازه ته کښېنستو. ډېر ناروغان هم نه وو ،په شمار به پنځه شپږ ناست وو. دوی ډېر خوشاله شو چې وار ژر راځي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه چې به له دوی ناستوڅخه لاړ یو ډاکټر ته دننه نه وو ورغلی، یو داسي سړی به راغلو ، ښځ غوږ وپښتان ،خواپاکې جامې،پالش څپلۍ ، پر دروازه ولاړ سړي به دروازه ورته خلاصه کړه هغه به ډاکټر ته دننه ورغلی . یو نه وو ،دوه نه وو ،بې شمېره داسي ډاکټر ته بې واره ورغلوچې پر دروازه ولاړ سړي ته به یې وویل " ولي داسي کوې ، دا خلک بې واره پرېږدې". هغه به وویل "دا د دې هسپتال وو یا د ډاکټر قریبان او شناختګان وو". داسي وخت دوی ته وار راغلی چې د ډاکټر د رخصتی وخت وو ، دوی چې دننه ورغلو ډاکټر چې شاه بي بي ته وکتل ، دوی ته یې مخ ور واړوه " داماشومه موڅ ده؟".

"صاحبه! لور".

ډاکټر له خولې لاس واخیستوچې څه یې پر خولځ ورتلو هغه یې ورته ویل . اخره خبره یې دا وه "زهٔ په مړي څهٔ وکړم".

(c) ketabton.com: The Digital Library

## زرغونه تنہی

نن هغه کور چې د کلي ښځې یې په صفت نه مړېدې . چا به ویل خوابښې ښه ده ، چا به ویل مرېندي ، چا به ویل چې ور شې ببېخي سړی په دې نه پوه کېږي چې دا اوس د انارګلۍ لونه دي که مرېندي .

چې کله یې دریم زوی ته واده راوړی، د ویر کډه هم ور سره راغله . د دوی په کور کې یې وا ړول، دوه درې کاله یې په شنه زړه سره تېر کړل چې پورې سترې شوه ،خپل دریم زوی ته یې وېش ور کړی . هغه د والې له هغه بلې غاړې خپل کور جوړ کړی . په هغه یوازې کور کې به هم د مېړه او ښځې هره ورځ شین زړه وو . د څو اولادو خاوندان شوخو سره پوه یې نه کړو . اخر هغه ورځ هم راغله چې د رحیمې مور ودې ته مجبوره شوه .

”رحیمې لورې! بس یې کړه ، تر څو به داسې ژاړې، وخپل ځان ته ولې ګورم اچوې . ټوله ورځ دي سترګې سرې نیولې وې . لږ خو د دې خپلو ماشومانو فکر هم وکړه،خواران ټوله ستا وخولۀ ته ګوري “ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

”مورکۍ! چې په پلار یې نۀ شوم ښاده، ښېخي به په دوی ښاده شم“ .

راحیمې خپل ټالي وڅنډل، ولاړه شوه په خونه ننوتله . مور یې سر ور ښکاره کړی، دا پر لمانځۀ ولاړه وه . ماځیګر څه لمر په غرۀ پټ وو ،هسي یې ژړې وړانګې په اسمان ښکارېدې ، راحیمه و الله پاك ته په ژړا شوه، په زوره یې دا دعا کوله ”ما خو د چا زړۀ هم نۀ دی ازار کړی، اې الله! دا اوس د خپل عمل سزا راکوې که د بل . خدایه! که له ما څه یو د اسي ګناه شوې وي ،زۀ نه یم پوهې شوې وماته معافي وکړه که د بل د عمل سزا را کوې نو بیا خو په دې کي څه شك نشته چې یوځ (بدل، ګټه)یې ضرور را کوې“.

راحیمه هغسي د لمانځۀ پر ځای ناسته وه ، لاس یې پورته نیولي وو . مور پر ږغ کړو ”لورې! د بل چا د عمل سزا نه در کوي،د خپل عمل . ولي د مېړۀ زړۀ نه دی زړۀ چ ې ستا د لاسه یې په کور کي یوه شپه خوړه ډوډۍ نه وخوړه “. کوشړې زوی یې بغاري وهلې .

د مشر لېورۀ یې توخ شوچې دننه راغلی ، ماشوم یې په غېږ کي پورته کړی ، جیب ته یې لاس کړوخوږه یې ورکړه . له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورېنداري او د ورېنداري له مور سره يې روغبړ وکړو ، له ځپلې سره کښېنستو. ”ورېنداري اوس پوره دوه کاله و شو چې ته په دې کور کې ناست يې ، کله دي مور درته راځي ، کله ورور. يوه واړه مو تر منځ ده، ماښام دورې راځه که دي له مور سره ګزاره نه کېده ، په ورځ خپل کورته راځه ، خپل کور له تا چا نيولی دی . راځه دا مور خواره څه کوې چې پرېشانه کوې يې“.

راحيمه بيا په ژړا شوه ”په ما کې کوم ه کمی وه چې داسي يې راسره وکړل،نه يې زما خيال وساتلو او نه يې ستاسو د عزت خيال وستالو. ماشوم خو هم نه وو، لوی سړی وو چې تر ما يې په عمر پخه نجلۍ وړې ده چي خوښه يې نه نواول به يې ويلي وای نه به پرماخواری تېرېدې نه به داسپين سترګې وای“ .

”راحيمې ورېنداري! خوا مهٔ بده وه، زهٔ منم چې بدکار يې کړی دی .تا هم د اسړی ډېر له ځانه لېوي کړی وو چې ښځه ښځه وي نو سړي په خپل موټ کښې ونيشي . هغه خو په تا نه وه پوره چې دی به کورته دننه لا نه وو راغلی ،ستا به بياخولهٔ وازه وه چ ې څهٔ به پر خولهٔ در تلو هغه به دي ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ويل ـ تر دې ځايه خداى را ورسا وى تا را ورسا وى ، په ورځ
كورته نه راتلۀ، په شپه چې به راغلى تا به دروازه ورته بنده
كړه چې په ټكېدو به يې ستړى شو، مخه به يې را وكړه د
مور خونې ته به راغلى چې زړۀ به دې غوښت خبرې دې
ورسره كولې كه به دې نه غوښت مروره به شوې ـ د هلك زړۀ
دې له كوره تور كړى بيا چې نجلۍ دومره قرباني ور كړه نو
نارينه خو دا دومره څۀ كولى شي كوم چې يې وكړل ـ اوس د
هغې نجلۍ ماشوم پيداكېدونكى دى ـ د ماشوم د پيداكېدو
وروسته كيداى شي يوه فيصله وشي ـ ورېنداري! زۀ كورته
ځم خو دا ياد لره ،كه هر څۀ شوي دي ،زموږ د ټول كور ګټله
له تاده چ ې مېرۀ دي كوژدن شوې نجيلۍ وتښتوله كه ته
سياله واى نن به دې مېړۀ مېړوښه ښځه نه وړه“ ـ
په كور كي مور بهښتنه ځيني وكړه ”زويه ! ورغلې ، څنګه
وه؟“ـ
”ښه وه، موري خولۀ يې و اسمان ته نيولې وه تراوسه لاپرهغه
خرۀ ولاړه وه“ـ
”زويه! شرين چې هغه بله بلا هم كور ته را و لي بيابه څ ۀ
كوي“ ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

"سکینې تهٔ ولاړه شه اوبه راوړه ډېر تږې یم" .

"موره! زهٔ خو پر سکینه ور وېرېږم چې وهغه هلك ته به یې ورکوو . اوس خو د نجلۍ پلار هم نجلۍ غواړي بله نجلۍ خو په کور کې نه لرو".

سکینه اوبه په لاس کې ولاړه وه ماشه ګناه کړې ده "زهٔ به ولې ځم؟. بد به نارینه کوي او ځان به په ښځه خلاصوي ".

"لورې! دا خو د پښتنو فیصلې وي".

"داڅنګه دپښتنوفیصلې دي؟ چې دګناه ګارسزا ویوبې ګناه ته ورکوي".

سکینه په سکول کې اول لاد اکاګانو نهٔ وه خوښه بیا چې دا خبره پېښه شوه بېخي له کوره په دباندي وتلو هم پابندي شوه .

" شرین هم عجبه کار وکړی،کوژ دن شوې نجیلۍ یې وتښتوله، ټوله غم یې مور ته جوړ کړی".

سکینې کالي کت پر کت کښېښودل خو په سوچونو بار وه .

له خونې چې را ووته، اکا یې پر موبائل بل چاته ګایېدی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

"سبا راشه، د امیر جان لالا پر ځای فیصله ده ـ اختیارونه یې یو له بله واخیستل" ـ

سکینې چابکه ډوډۍ تیاره کړه چې ژر سوچونوته خلاصه شم ـ پلار یې له خپلې مور سره ږغېدو چې فیصله په دې ډول کېدای شي ـ

انا "سکینې لورې! ځورشه خپل کار وکړه ، څڅۀ کوې زما او د پلار خولې ته ناسته یې".

"زۀ اوس څۀ وکړم؟".

انا "ولاړه شه خپل کار وکړه".

سکینه چې دباندې را ووته غوږ یې د بابا او انا پر خبرو ونیوو، پلار یې وانا ته د فیصلې حوال ور کاوه "موره! د هلک وپلارګنۍ ته مو یوه سکینه ، پنځه لکهه روپۍ ورکړې ـ د نجیلۍ وپلارګرۍ ته مو یوه زرغونه تنۍ ، دوه لکهه روپۍ ورکړې".

سکینه وهغه دېوال ته داسې وچ ولاړه وه لکه یو لرګی ـ زرمینه چې راووته سکینه یې ولیده، تر لاس یې ونیوله خپلې خونې ته یې بوتله ـ په خونه کې هم بېخي تر ډېره حېرانه ناسته وه ، یو خت یې تر خولۀ چیغه وختله ـ زرمینه لګواره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته ناسته وه ، هیڅ یې نه ویل - سکینه چې په ژړا ستړې شوه ، مخ یې ور واړاوو "تنداري! تهوله لکلی شرین کاکا په دې کشمکش کي اچولی وو، د دهٔ دي خدای یوه هم نه سموي - دا د دوبي شپې او ورځي ، هر سړی په خونه کي ویدېدو پر خپلو لوښو یې وېره شوه چې دی نه وي د هغې نجیلۍ د کورنۍ یا خسرګۍ له خوا یو پېښه را وشي - د تهولو به رنګ په بد شي" -

"موره! موره!"-

"څهٔ وشو قربان"-

" موره! خوب مي لیدی"-

"بیده شه زما ګرانې! خدای به هر څه خیر کړي"-

"موره! تهٔ ولي دومره وارخطا یې یوه ورځ خو انسان مړ هم شي - یوه ورځ به زهٔ هم داسي له دې دنیا څخه رخصت شم"-

موریې پرخولهٔ لاس ورونیوو "چپ شه داسې مهٔ وایه، خدای دي د عزت مرګ در کړي - دلته خود نجونو مرګ هم پېغور دی"-

"دا تاسو دوو څهٔ شور جوړ کړی دی خو ویدې شئ"-

(c) ketabton.com: The Digital Library

" سرې! هسې د سکينې خوب خراب شو".

"ښځې! لږ خو سمه ږغېږه، ته خو تيار جنګ يې" .

"زما دا ښايسته لور تا په بدي کې ور کړه . زه کله هم حق نه در بخښم".

" ښځې! ته راته ووايه، ما څه کړي واى . که ته وايې ځان مړ که يا ورور، زه دواړي نه شم کولاى ".

د سکينې بالښت له اوښکو لوند خيشت وو، هر څه يې پر ځان ټپول .

"سکينې لورې! ونه ژاړې اوس خوب وکړه ده، ازل ليکلي نه چيږي" .

سکينه " دا څه کوې؟، ټدار ي!".

"ستا د واده تياري کوو، دا ټولې ستا د واده جوړې دي".

سکينه په ژړا شوه"خداى دي د شرين په کور اور ولګوي".

تنداري د مسخرو په ډول "هغه وخت چې مور په کې نه يو ".

د سکينې خوابښې خپلې مېږور ته د واده جوړه راليږلې وه او څه نور سامان ، خو کور د واده نه، د وير کور م علومېدى . د سکينې مور چپ ناسته وه، تر خولې يې هيڅ هم نه را وتل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

کشرى مړور”موره! موره! نکريځي “.
”څوك يې غواړي؟“.
”موره!دا تۀ څۀ وايې؟. سبا تۀ سکينه په سپينو لاسو ودوې“.
ټوله شپه تيره شوه . بابك هم ژاړي . ”انا !موږ څۀ وکړو؟“.
دسکينې تر خولۀ ساه نۀ وځي . ”ورشه پـه المارۍ کې دي .
سمي يې ورولګوه داسي نه چې سبا څوك پر وخاندي“.
د سکينې پلار ”سهار موږ د هر کور يو يو سړى راغوښتى
دى، د ډوډۍ د پاره او بله خبره موره! داسي نۀ چې ت اسو
چپې ريې وږغېږى، خلګ شيطانان دي ،دى نه وي تر هغو
يې ورسوي “.
”يا زويه! ليوني خو نۀ يې“.
”زړۀ مي پۀ خداى شين دى . زۀ ناني درالېږم ستاسو هر کار
به در کوي . زۀ بيا تر هغه دننه نه راځم چې سکينه له کوره نه
وي وتلې . زۀ د خپلې ښائستې لور د ژړا د اورېدلو توان نۀ
لرم“ .
”سمه ده“.
”خداى دي مخ ته ښۀ راپېښه کړي، خداى به يادوو، نور نو
موږ څۀ کولاى شو“.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کلي ټاټ ټاټ ښځې راغلې. هر ې يوې چ ې به ناوې ته کتل، زړونه يې پر سو ځېدل. د هرې ښځ ې سترګې داسي تکې سرې وې لکه د ناوي د مور. ټولو داسي ګڼله چې "دا له يوې نجيلۍ او سړيه پيښه ده، څو کورونه يې وران کړل. بس د دوی خوارانو به هم ناره خدای واوري".
يوې ښځې په دوی کي ووئل "بنګلو له ځي څه کنډوالو له خو نه ځي، بيا که يې مېړۀ سيال وو په لاس کي به يې ونيسي ".
"بنګله هم له ښۀ زړۀ سره خوند کوي". د کلي ښځو ډوډۍ خوړه سره رېغبدې.
زوم يې دننه کور ته راوستو. نکاح يې و تړله، له ناوې سره څلور ښځې له خوابنې سره ولاړې.
نکاح وتړل شوه، سکينې په ژړا کي وشېرين کاکا ته ښبراوي کولې.
د سکينې مور" لورې! ته شېرين کاکا څۀ کوې؟. تا دومره قرباني ور کړه نور ،يوځ به يې خدای در کوي".
"موره! زۀ به دی بيا کله ووينم چې جوړ زړۀ په يخ کړم".
"که ژوند وه خدای به دي راولي".

(c) ketabton.com: The Digital Library

موټران ودریدل ـ اوبه یې پر وغورځولې ،          ښځې یې په موټرانو کې کښېنولې ، زوم هم تر ناوې کم نه و ـ د سکینې میړهٔ داسې ځلېدی لکه د اسمان ستوری ـ خپښانې هم داسې په مات زړهٔ وې چې خدای به څهٔ راسره وکړي ـ

د زوم مور سکینې ته منګی کښېښوولی، په ښی پښه یې مات کړی بیا چې خونې ته ور ننوتله، هګۍ یې هم په ماته کړه ـ خو د کلي ښځو انګۍ و یلې، د یاسر ناوې به ځنګه وي، په بدي کې یې راوړې ده ـ

ځینو پړونی پر واچولی، ناوې یې نه کښېنوله ـ د یاسر مور ډیره ښه ښځه وه، په دې یې خوابده کړه چې داسې خبره بیا د چا له خولې نه واورم ـ ټولې ښځې داسې شوې لکه د هر یوې پر سر چې اور بل کړی "وریندارې! د دوی دومره خاطر مهٔ کوه"ـ

"ولې به یې خاطر نه کوم ، اوس خو موږ سره دوستان یو"ـ

" که سره دوستان وای نن به زموږ او د دوی نر او ښځې سره یو ځای وو"ـ

"زهٔ منم چې زما لور ډیر غلط قدم ایښی دی خو د هغې سزا زهٔ و دوی ته نهٔ ور کوم"ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

"که حق لري ـ زما د ورور ټوله پیسې تا او ستا نازولې لور وخوړې".
"زۀ منم خو زما لور به هم ټوله ورځ له تا سره وه، تا تر دې انده را ورسوله ـ اوس زما په مړور ځوك كار وه نه لری ، زۀ خپل زامن لرم ـ ما خو تر اوسه خپله مړور لالیدلې نۀ ده، تۀ ور شه یو وار دوی له شربت را وړه".
"خاوري دي وخري شربت".
"دا څۀ وایې؟ـ نن زما د زوی وادۀ دی، تۀ ولې داسي کوې".
"سمه ده،زۀ خپله ور ځم".
د یاسر مور د باور چیخانې مخ ته ولاړه وه چې برنډې له ولاړه نو ټولو ښځو دا خبره کوله "خدایه!دوی بیا څنګه ظالمان دي، ناوې له هغه وخته ولاړه ده ، د کنښېنولو ځوك یې ښته".
د یاسر مور چې خپله مړور ولاړه ولیده نو حقه حیرانه شوه ـ "دا له هغه وخته ولاړه ده ولي یې کښېنوی نه ـ دا خو مه په ولاړې مو سترې کړې او وژلې ده". د ښځو څخه یوې ښځې پر ږغ کړی "دا ستا ایندرور راته وویل چې دلته یې ودروی ښځې یې ګوري".

(c) ketabton.com: The Digital Library

”ښلنسو خوا مهٔ بده و ی ،څو ورځې دي خدای به یې تیري کړي“.

”زما لور چې وکړل هغه به مي په زړهٔ کي ازغی وي ،خو زما مېړور هم زما لور ده، که دا ښه وه ټوله کور به ورسره ښهٔ وي، خو پر هره خبره باید خوا نه کړو بده“.

د یوې ښځې بږغ شو”تهٔ دالته ناسته یې له دوی سره، ورشه هغه د پلارګنۍ ښځې دي له لویږي مري څه ور کړه.......“.

”تهٔ کله ځې؟، نن ماښام که سبا سهار، که له دوی سره دریمه شپه هم تیروې“.

”ماښام مودسکینې پلار را غوښتی دی ، هغه راځي“.

”ښهٔ ، خو یوه خبره واوره هغه به دننه نه راځي“.

”سمه ده ، مورې ورته ویلي دي نه به راځي انشاء الله“.

د یاسر کوشنی خاله ځان ور وپېژندلی.

”شهٔ دی، تاسو د دوی په خبر و باك مهٔ کوی. یاسر ډیر سمجداره هلك دی“.

”تاسوچای وکړی ، سکینې ته یې هم ور کړی“.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سکينې مور" لوري! مورې اوس ځو ته به تر خپل ځان د نورې کورنۍ خيال ډير ساتې، سمه ده او د خپلې خوابنې،خسر او لېورو به هره خبره بې ځان نه بوج کوې".

سکينې له اوښکو ډکې سترګې ور واړولې. د سر په ښورېدو يې ور سره هو وکړه، تر خولۀ يې هيڅ هم نه ور وتل .

د ياسر مور"غاړې دي بندي زويه! که دي سکينې ته د اکا پيغور ور کړی وو. هغه ډيره معصومه نجيلۍ ده، ښه زويه!".

"سمه ده مورې!".

سکينې په خونه کې يوې او بلې خواته کتل چې هر شی دومره په ترتيب پروت وو.

"ياسره! راځه چې ناوې ته دي وروستم. تر ورۀ ماته هم درواره معلومه ده. زۀ خبره يم خو تۀ به ګورې ډير نازونه نۀ ور کوې ، دا مورې په بدي کښې راوړې ده. راځه".

چې ياسر په خونه ور دننه شو،سکينې ژر مخ ور واړولی، بدن يې په لړزيدو اخته شو.

ياسر په دې فکر کښې وو چې"دا به څنګه وي. ټوله يې صفت کوي چې زما به خوشه شي که نه".

(c) ketabton.com: The Digital Library

یاسر چې مخ ور لوڅ کړو نو د سکینې پر مخ یې اوښکې لکه باران رڼې روانې ولیدې "ته ولې ژاړې؟ واخله په دې دسمال اوښکې پاکې کړه". ټوله شپه د دواړو په خبر و تیره شوه. یاسر کله هم دا سوچ نه وو کړی چې "دومره شه او هوشیاره نجیلۍ به زما د ژوند ملګرې کیږي".

د وادۀ دوې میاشتې یې دومره ژر تیرې شوې یاسر او سکینه بیخي په پوه نه شو.

نور هر څه ښۀ وو، یو د یاسر د کورنۍ ښځې ملا یانواو پیرانوته تللې چې د دوی کور خراب کړ و، خو سکینې هر څه بېخپل زړۀ تیرول.

نن یاسر سکینه د خپل پلار کره بوتله. "دا خرڅه واخله،زۀ بیا خپله درته راځم او بله خبره دا ده چې د هغه کور یوه خبره هم په دې کور کې ونه کړې".

"نۀ یاسره! داسې بې عقله هم نه یم چې د هغه ځای ټولې خبرې به دلې کوم".

یاسر"ښۀ ، زۀ ځم".

خوابنې" نن نه شې تللای ، ماښام به ډوډۍ راسره خورې ، شپه به راسره کوې ".

(c) ketabton.com: The Digital Library

"نه اوس ځم چې بیرته په سکینه پسې راغلم بیا به شپه در سره وکړم".

مور یې په مخه ښه ورته وویل ، سکینه ورسره را ووته، تر هغه یې په یاسر پسې کتل چې دی ناام شو .

مور "نه شرمېږي چ ې په دروازه کې ولاړه یې په یاسر پسې ګورې ،که د کور نورو بندګانو ولیدې څۀ به وای".

"مورې! هر څه چې وای، زۀ رښتیادرته وایم ، زما بې یاسره یوه ګړۍ نه تېرېږي . اول مې شېرین کاکا ته ښېرا کولې، اوس دعا ورته کوم چې هر وخت یې پیداکړم په پښو کې ور لوېږم معافي ځیني غواړم چ ې وما ته یې د ژوند ملګری، د یاسر غوندې را پیداکړی".

د سکینې مور" لورې! خدای د ې عمر ډیر کړ ې چ ې رایې وستلې بل چ ې مې نۀ ولیدې، زموږ تر کور د دوی په کور کې په ښۀ رنګ شوې یې".

"مورې!شېرین کاکا یایې ښځې راځي او ښځې یې څنګه دي په کورکې ګزاره سره کوي اوکه نه ښۀ دي حال یې مه غواړه" .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سکينې مور د ورور کور ته تللې وه چې راغله له زرينه څه يې وپوښتل وکړه "لورې! سکينه چېرې ده ؟"۔
"موره!سکينه چې ته روانه شوې، له هغه وخته يې پر سر درد وی ځان يې کی واهی، په خونه کې پروته ده ۔ يو ډاکټر ته يې بوځه داسې نه چې يو څۀ په وشي"۔
" سکينې لورې! درځه چې ډاکټر ته لاړ شو"۔
"مورې! زۀ تر هغه ډاکټر ته نۀ ځم، تر څو چې ياسر نه وي راغلی"۔
"چې ياسر راځي، تر هغه به ته تر مرګه ورسېږې"۔
"سمه ده ،زۀ به ياسر ته فون وکړم چې له ډاکټره دې کورته بوځي"۔
"ياسره! لږ ناروغه وم"۔
"ولې خير وو؟"۔
"هسې مې پر سر درد وو ۔ درځه چې ډاکټرته ځو"۔
په خپل موټر کې يې ډاکټر ته روانه کړه ۔ د سکينې په وجود کې د ولاړېدو توان نه وو ،رنګ يې تک ژړ وو۔
ياسر شيشه پر برابره کړه ۔ "سکينې! ږغ دې نشته دا ولې؟"۔
"ياسره!زۀ به بيا ژوندی خپل کلي ته راشم"۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

یاسر وخندل "ولي د عزرائیل بل کار نشته که څه ـ دومره خو هم نه یې کمزورې ".

" یاسره!زما دا خیال دی چې نن ورځ زما او ستا د ملګرتیا اخره ده".

د دې خبرې په اورېدوسره د یاسر سترګې له اوښکو ډکې شوې ـ "دا ده لېونتوب خبرې مهٔ کوه".

"ډاکترصاحب! له پرونده یې پر سر درد دی . کیږ هم وهي" ـ ډاکتر دوا ورته ولیکله، دا په هسپتال کي پر کټ پروته وه ـ نرسانې تلې راتلې "دا ډریپ ختم شو بل ورته راوړه".

یاسر یې وڅنګ ته ناست وو ،د خپل کور د ښځو یې یوه یوه هغه خبر ذهن ته راتله "یاسره! خدای دي په دې نازکه ناوې ارمان مهٔ کاږه ، تهٔ خو د دې سر ته کښېني ـ بس له ننه پس زهٔ ستا کره نهٔ راځم".

"څه تروره په مخه دي ښه شه ـ نوره دي نهٔ غواړم"ـ ترور یې درب ګیټ بند کړی او ووته ـ

یووخت د سکینې د خولې دا اخري څو لفظونو یاسره د سوچونو له دنیا څخه را غبرګ کړو "یاسره! زهٔ ،زهٔ،زهٔ مرم ـ زمابه له تا سره نور د ملګري خوند نه وي ".

(c) ketabton.com: The Digital Library

یاسر لکه ماشوم چیغې یې کړې ، ور ولاړ شو. د سکینې مخ یې په خپلو دواړو لاسونو کې نیولی وو، اوښکې یې څڅېدې
.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جرمني

که بړې دومره نازولم لکه خپلې مور ،په دې ښاه سته کور کې چې چارپېره پخې خونې، په منځ کې یې ډېره غټه چمني وه ـ پر چمني چارپېره رنګ په رنګ ګلونه ـ
زما د بابا او مورکۍ هغه دوې د خاورو جوړې خونې، تر تهول کلي لوړ ې د خاوري پر یو هسکه غونډۍ چ ې ما و مورکۍ به هر سهار او ماځیګر د لاندي کلي له (څا)او به را خېژولې ـ
ښ که مي څه هم د مور د عمرو وه، په خولۀ کې یې غاښ نه وو۔ زما د مور تك سپین واړه غاښونه یو هم نه وو وتلي ـ
مېړ ۀکه مي د پلار د عمر وو بیا ناجوړ غاړی (ناروغه)وو ، هره ورځ به یې تبه وه ـ
ډېرې ورځ ې به مي دا خیال شو چې وتښتېږ ه چ ې د بړې لاډ (ناز)ته به مي وکتل ـ پر هغو ښځو به مي نیت بد شو چې تل به د ښو له بدرږتي ږغېدې ـ
په دې کې دوه کاله تېر شو۔ رقیه لور خدای را کړه ،له دې ورځې پس مي د دې کور و ابادېدو ته لږ زړۀ غوښت ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

لۀ دې پس به د    دې کور  په يوه بله خونه کي هر   ماښام يا ماخوستن د ع‍وه وه ، مور‍ږ    به کله د    يوې کله بلې خونې ګوانښ ته ورتلو ـ تر هغه چې تر دې ځايه را  ورسېدو ، زمور‍ږ په کلا کي به هره ورځ د  سر‍و جنګ وو۔ د کلي خلګ  به يې ګوانښ ته راتلو۔

په کم کال چې د کلي خلګ راغلو،زمور‍ږ وېش يې را وکړی، مځکه يې زما   مېر‍ۀ ته د درو    سره وروڼو  برابره ور کړه ـ دوکانونه يې زما  ومېر‍ۀ ته درې ، و نورو ته يې دوه دوه ور کړو۔ يو دوکان يې زما مېر‍ۀ ته په مشري کي ور  کړی ـ

چې له دې ويره خلاصېدو   ، خوشالي راغله ، وماته خدای نيك محمد  زوي را کړی ـ تر ما زما بن ډېره په خوشاله وه ، تمامه ورځ به يې په غېږ‍ږ     کي وو  دابه يې ورته ويل " له مورکۍ څخه خدای واخس ىته ، مورکۍ ته به اوس خدای نېکو ور  غټ کړي ـ د  مورکۍ بل ارمان نه وو   ، بس دا  يو ارمان يې وو  ، هغه دا دی خدای ور    پوره کړی ـ اوس به مورکۍ تل ستا  د سر دعا کوي،  پر يوه او بله خوا  به يې مچاوه، دابه يې ورته ويل"۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د نېکو کال پوره کېدو ،زما او د ده دواړو مورکۍ د خدای په کار شوه . کېدای شي سکنۍ مور مې مړه وای ، دومره به مې نه وو ژړلي . له دې پس مې مېړۀ داسي ناروغه شو چې د ولاړېدو نه وو، ډېرې ورځې ورغلم لېورو ته مه يې وويل "تاسو دا سړی ډاکټر ته يوشئ" . يو څه وخت يوه هم پروا نه په کوله .

د کشر لېورۀ يې کور ودان، ډاکټرته يې يو وړی . د ډاکټر له دوا سره سړی ډېر ښۀ شوبيا به هره ورځ د ورونو په ميان کې پر دې جنګ وو ،تا زما اوښاړولي دي،زما له خوادي خاوره په بيلچه کي اخسږتې ده . پنځۀ کاله بيا په دې کي تېر شو.

يوه شپه سړي وويل "ښځې! سبا مې موټر راغوښتی دی کډه کوو".

"سړيه! پر کمه ځو،دا مځکه وچاته پرېږدې".

"ښځې! دا مځکه ودوی ته پرېږدم ، دوی پوه شو او مځکه . موږ به ښار ته لاړ شو ،يو به په نېکو تعليم وکړو بل به د دې هرې ورځ ې له جنګه خلاص شو. شکر دی په ښار کي دوکانونه شته ، د هغو کرايه به را اخلو، زموږ ښه ګزاره په کېږي".

(c) ketabton.com: The Digital Library

سهار موټر راغلی، موږ کډه را وکړه ښارته راغلو. د کرايې په سرای کي مو واړول. نیکو يې په سکول کي داخل کړی . ما د ښار نجونې ليدې ، ټولې سکول ته تلې . څو واره مي ورته وويل "سرېه! دا رقيه به هم په سکول کي داخله کړو ". سرې وماته معلوم وو چې یوار به يې چك کړو بيا يې هغه چك(نۀ) وو. په دې ډول موږ په ښار کي ژوندکاوه ، کله د کرايې په یوه سرای کي کله په بل کي .

اوس به رقيه د اوولس کالو وه، نیکو د پنځلس کالو چې يوه ورځ رقيه غوځاره شوه ، لاس يې مات شو. په رقيه نه وم حېرانه، په خپل سرې حېرانه وم . په لاس مي ولاړو ۀ ،په سترګو ډېر ټپ (کمزور)وو چې ولاړ به دې کړی بيا يې په تلو کي ګزاره کولای شوه .

څو واره ما او سرې رقيه ډاکټر ته بوتله، لاس يې جوړېده نه کول . هر وخت به په چېغووه، د دردو په ګولۍ يې ګزاره وه . يو ماځيګر مي سرې ته وويل "سرېه! دا رقيه خو ډېره په تکليف ده".

"ښځې! څه په وکړم ، داسي ډاکټر نه دی پاته چ ې موږ نه يو ورغلي".

(c) ketabton.com: The Digital Library

"سړیه! که ستا خوښه وي هغه پر چوك د سکندي والا ته به یې ور ولو"۔

"خود یې ور وله"۔ جیب ته یې لاس کړی ، څلور سوه روپۍ یې راته ونیولې ۔ "سړیه! زهٔ روپۍ څهٔ کوم، ته ور شه رکشه را وله"۔

"ښځې! زهٔ د تلو نهٔ یم ۔ ور شه یوه بلا دي نه خوري ، ته ده ښار ښځې نه وینې ۔ نېکوچېري دي"۔

"هغه ستا نازولی به یو ځای کرکټ کوي چې راشي خپل سر به یې په بل مات کړی وي یابه یې د بل سر ور مات کړی وي ۔ لس ورځې مي درته ویلي دي سړیه ! دا هلك پوه کړه ، کور یې کښېنوه خپل سبق دي وای یا یو کار وي هغه دي کوي ۔ ځوان شو ، د کور په یوه ښه نه دی ، د کور په ښه خو مهٔ وایه ۔ د بدی مو خاوندان کوي چې سکول ته لاړ شي ،که کرکټ ته، جنګ یې کړی وي "۔

د دروازې درب شو ، نېکو دننه راغلی ۔ له هغه ځایه یې پر پلار ږغ کړی" بابا را واړوه سل روپۍ "۔

ما ور ږغ کړو "ته یوار سل روپۍ پرېږده ، ور شه رکشه را وله ۔ دا رقیه ډېره په تکلیف ده"۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

"ځودربړه ،رقیه چې په تکلیف ده ز ۀ څه وکړم ، ولي په احتیاط نه تله".

ما ورته وویل "ځراشۀ چ ې یو لاس در مات کړم، ځ څومره چېغې وهې".

"ستا پلار هم زما لاس نه شي را ماتولای ،ځ بیا دومره زوروره یې".

پلار یې جیب ته لاس کړی، سل روپۍ یې ور کړې .

" زویکه! اوس ورشه، رکشه را وله".

رکشه یې راوستله، موږ د سکندې والا کور ته ورغلو . نېکو د سړیانو (سړو) خونې ته ورغلی ، موږ د ښځو خونې ته . په خونه کې یوه چټای خوره وه(هواره)ډېر ې ښځې ناستې وې . د چا شنې، د چا تورې چادرۍ، د ځنو پړوني پر سر وو.

د اکثرو د ماشو مانولاس یاپښه به مات وه . یوه ښځله ښکارېده چې ماته پښه یې مخکې سکنده کړې وه ، اوس پر تلای شوه او د سکندې خلاصېدو ته راغلې وه . ما پوښتنه ځیني وکړه چ ې "په پښه دې څ ۀ وشو". دې خبره دلې دورې کړه، حال یې رانه کړو ، بله پوښتنه مې بیا دا ځیني وکړه پلار در سره دی که ورور".

(c) ketabton.com: The Digital Library

"مېرۀ"

ما د دې ښاه ست ته کتل ډېر خوند يې راکاوه . دې ته مې کتل، په خيال کې مې د دې د مېرۀ تصوير جوړاوه . داسې ځګ ځوان به وي ، ښۀ غټ وېښتان ، په لوڅ سر ، ږيره او بريت دواړه خرې يلې چې دننه راشي د سپنتهو خوشبوي به يې دا خونه له بد بوي څخه خلاصه کړي . ما يې لا تصوير نه وو مکمل کړی ،يو سپن ږيري ، پر ملا کوږ سړي سر را ښکاره کړی "ساجدې! ښۀرا ولاړه شه ".

چې داولاړه شوه ، وما ته د پښتو هغه متل را په ياد شو چې وای(ښځه و ترخه ته هم کښېني). پر ځان مې شکر وکيښ، له ځان سره مې وويل سختې يو تر بل بد ترې . په هغه ښځه پسې زۀ او رقيه لکه د وخت زورور بې واره ورغلو . دۀ د رقيې لاس ونيوو ،خولۀ يې له نسوارو ډکه وه ، چتهای يې را پورته کړه، نسوار يې توکړل . دۀ د رقيې لاس ته کتل، وماته ږغېدو "څۀ په و شو،چاته مو ور وستلې هم ده ". په خبرو خبرو کې يې د رقيې پام په بله کړی .

د دې يې لاس پر خپل ځنګانه وواهه ، ټك مات شو. رقيې چېغې کړې، دۀ وخندل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

"بس بس لورې! که خدای کول زياته جوړ دی".
لاس يې بېرته وتاړ ی، موږ درې س ؤوه روپۍ ور کړې، راووتو. کور ته راغلو. رقيه درد و اخستې وه، نور ې ورځې يې يوه ګولۍ کوله، په دې ورځ يې دوې وکړې. خدای يې د دې سړي لاس شفا کړی وو، د رقيې لاس جوړ شو.
وخت تېرېدو ،يوه ورځ سړي راته وويل "ور شه هغه صندوخ کي پراته کاغزونه را واخله". ما هغه کاغذونه ورته راوړو ، دۀ چې کاغذونه په رېږدېدلي لاس کي نيوو"ښځ ې! زۀ دا خپل جايداد د زوی په نامۀ کوم او بله خبره زما ورونه چې په ژوند نه راغلو ، په مرګ مي ضرور راځي . د نېکو د پاره نه ستا د پاره . ښه ځوانه ښځه يې پاته ده ، دابه يو په نکاح کړو. نه نه ته د خپل اختيار يې، هر څوك چې ستا خوش وو هغه وکړه".
يو سهار پر لمانځۀ ولاړ وو،غوځار شو. ما دی سماوۀ ، رقيه ورغله نېکو يې را وستو. د نېکو تر راتلو له مخه د دۀ روح الوتی وو.
هغه د دۀ خبره وه ، په مرګ يې دواړه ورونه راغلو . تر هغې ورځې ناست وو چې فلتحه ختم يږه . د دۀ د فاتحې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ختمېدو وروسته د نېکو له اکاګانوسره تله راتله ، ناسته پاسته زیاته شوه . ډېر مي ورته وویل ، ډېر مي ورته وویل . ښکو سر نه خلاصاوۀ . په هغه ورځ يې سر خلاص شو چې مشر اکا ورته ويلي وو"دا مور که دي خوښه ده ، تر ټولو کشر اکاته به يې کښېنوو . ځوانه ښځه ده ، مور به يې له عذابه خلاص شي بل دي کشر اکا زوی نه لري ، خدای به زوی ځيني ورکړي" . په هغه ورځ د نېکو سر خلاص شو.

"نېکو زويه! ته په دي کتابو څۀ کوې چې شپه او ورځ دي پر ځان يوه کړې ده" .

"مورې! ز ما امتحان را روان دی ، غواړم چ ې ښۀ نمبر واخلم . زما يو کلاس فېلو دی، د هغه مشر ورو ر راته وويل " په سکالرشيپ دي جرمني ته لېږم". خدای دی وکړي چې په (بي اې)کي ښۀ نمبر واخلم".

"زويه! پښتانۀ وای "ځالار چېري د خدای لار"مور او دومره بخت بيا که دي بخت ملګرتياهم وکړي، زۀ او رقيه به ښنګه کوو".

"موري! ته دعا کوه، ټولې به خدای اسانه کړي ".

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې کله رزلټ راغلی وو ،نېکو پر ما زېری وکړو"زۀ فرسټ راغلم".

"زویه! دا فرسټ یې بیاڅۀ ته وای".

"مورې! اول".

"په ټولو هلکانو کې".

"یا مورې! په ټوله صوبه کې".

دی او د خپل کلاس فېلو ورور ،په هغه کار اخته وو چې پوره نوم یې زما پر ژبه نه اوړي (شیف)چ ې له هغه کاره را خلاص شو ،یوه شپه د ماما کور ته ولاړ ، له هغې خوا چې راغلی وماته یې وویل "مور ې! دوی ټوله ښۀ وو ، سلامونه یې در کول ـ له ماما سره مې خبره وکړه چ ې زۀ مورکۍ او رقیه درته راولم، ماما څۀ پرېشانه شو ـ زۀ خورې نه لرم، زما د پلار د وختو دوې خورې دي، ګزاره به ښنګه سره کوو بل به دي هغه اکاګان څۀ وای".

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما بخت ښکاره دی

نن د اوبو وار د چا دی ، په کور کي د اوبو غوړپ ن شرته . د ښار خلک دي ارمان نه کوي، هلته خو دا ګورم نه رشته . په ژمي خو لا څه ګواره کیږي چي څنګه سپرلی شي، خلک اوبهپر وارکړي .

که اغاجان ته ووایم چي ورشه اوبه را ایله کړه نو بیا به سور او شین کیږي چي زهٔ څنګه د خلکو په وار اوبه را ایله کړم .

انار ګلي په درب بالتی کښېښوده . لوښي یي له خپلي خوني،څه یي له نورو خونو را ویستل، سره یو ځای یي کړل . انار ګلي چي لوښو ته وکتل نو نوره هم سره و شنه شوه . د یور د خوني لوښي یي هم مخ ته پراته وو. لوښوته یي کتل له ځانهٔ سره بنېدله . هیندرور پر ږغ کړی "ورینداري! نه یي ملامته نن دي بیا د کار وار دی . ځکه هر قدم داسي ږدي لکه پر سکروټو".

دي مخ ور واړا وو "ستا د پلار کور دی ،څهٔ د یوخان بنګله خونه ده . زهٔ په دي زړو کندوالو کي اوبه له کومه کړم".

(c) ketabton.com: The Digital Library

”وريندارې! خولۀ ونېسه . ما تاته کله  د کور پيغور در کولی . ستا غه خوهم بنګلې نه دي“.

”بس ، بس قدرمرې! نوره مي مۀ ګايوه“.

اغاجان غاړې تازه کړې دباندي را ووتی”دا تا څۀ شخ ول جوړ کړی دی . خلګ مۀ راباندي خندوی . دا خپلې خولې ونيسۀ دې ته مي مه اړ  باسۀ چې لړګی را  واخلم، ولاکه مو بيا د چا پلار را څخه خلاصې کړي . ټوله ورځ په دې تېره کړی، يوه په بله خولې لګوی  . نه خواشې شته، نه خسر بيا هم ستا دا حال دی “.

”اغاجانه!بيا موږ څۀ وکړو، پر  کور د اوبو غوړپ نشته ، زۀ دا ګډوې په چيشې ومينځم“.

”څله مو ماخوستن د ويالې اوبه نه راوړلې .           نه ياستی ملامتې، د  شپې له خوبو نه ور خلاسېږی،   سهار بيا يوه په بله خولې لګوی   . زۀ مو هم نه يم ذمه واره“. اغاجان پټهو وځنډلی دباندي ووتلی .

”تۀ خو به هم يوار له کوره وتې . ټوله روځ لکه ښځه پر کور ناست يې،د ورېو و لاس ته ګورې . خاوري دي شه دا دوې ګونې پټاټې چې تا موږ له راوړې“.

(c) ketabton.com: The Digital Library

انارګلله له ځانه سره ګډه وه ـ لوښي يې يو رنګه ومينځل ـ خپل وړۀ يې واغښل ـ

”وريندارې! تا بيا د اوبو ګورم جوړ کړی دی ـ دا خو به تر مني پوري داسي په منډه يو ،دا د يوې ورځې غم نه دی“ـ

”ښاهستې! ستا يې څۀ پروا ـ زما ماښام هم له دوی سره داوه وه چې يوه د اوبو ټينګۍ ښواخلو يو څو ورځې به مو ګزاره په کيږي“ـ

”نو بيا يې څۀ ويل؟“ـ

”هغه ويل يوازي زۀ په دې کور کي اوسېږم، که نور هم اوسي ـ بايد په ګډه يې واخلو او دا نو کم داسي خبره ده، ځه تۀ هم ماښام په ماښام! پلار ته ووايه ـ سهار يې وغواړه“ـ

”تۀ را نږدې شه ـ دا خبره د قدرمنې مخ ته مۀ کوه ـ د دې هم څو ورځې دي بيا به وايي زما د ورور کور مو په کوړکه چرګه بار کړی“ـ

”خير هغه وخت بيا دا هم څۀ نشي ويلای“ـ

دواړو خپل خپل کارونه بې غمه کړل ـ ماشومان يې اسکول ته تللي و و ـ کشرې وريندارې په ايندرور ږغ کړی”قدرمنې! راووځه ـ څۀ کوې چې ټوله ورځ دننه يې“ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

”در وځم ورينداريٍ! خو زۀ چې کله د سينځلۍ ښه بوی وي، ادې راياده شي. هغه به هم پر کور نه کښېنستله، ټوله ورځ به يې په باغ کې بشکي کولې يا به يې ساګ کول“.

”ژر راځه چې د ځانښت چای وکړو“.

”تۀ درځه زۀ دا شيان خوندي کوم درځم“.

دوی چې ځنګه په برنډه کښي سره کښېنستې. انار ګلې چای راواخيستې. په ډبې کې يې يو ځو کښکره ګوړه ورسره را اخيستې وه ،شاپېرو هم په ګېټ را ننوته. د دوی کورونه سره نږدې وو. انار ګلې چې دا وليده نو غټه سا يې وکښله او وې وويل ”يو وخت خو به موږ هم پر کراره له تا ځخه شی خوړلی ، لکه روې داسي زموږ وخت ور مالوم دی“.

”ستړې مۀ شې“.

”خير يو شې. کښېنه اوس بيا ولي ولاړه يې “.

”زما له قدرمنې سره کار وو“.

”هغه هم راځي کښېنه ، چای به وکړې“. د دوی دواړو په نيت شاپېرو پوه شوه، له شرمه يې ږغ نه کولی.

قدرمنې چې خور وليده نو يې وخندل ”تۀ راغلې“.

”هو. ما ويل که ستا سم پړونی سته زۀ تلم ډاکټر له“.

(c) ketabton.com: The Digital Library

”ډاکټر څۀ کوې“.

”د عابدې تبه وه ، هغه مو وړله“.

” څوك دي بيا يي“.

”جميل “.

”سم حال ورکړه، داسي نه چې ناروغي ور ډيره شي. يو وار يوه لور شي هغه هم ناروغه“.

”څۀ وکړم ، خدای را سره کړي دي. څۀ د بنده له لاسه خو نه دي“.

”دا نو تۀ وايې خورجانې! ستا ميړۀ خلګو په لوی لاس لېونی کړی دی. ستا ژوند در خوري. خدای دي پر مخ خير در پيښ کړي. اوس تر ابده تر دې تيره ده. خير به يې غواړو“.

دواړي ورېندارګانې يې يوه يوه ولاړې شوې ”قدرمنې! د دوی مخان ولي پړسېدلي دي “.

”بس خپل تر خپله خوشحاله دي، هسي مورکۍ ته يې ګورم اچولې دی“.

”د انار ګلې خو سهار هم داسي دعوه وه“.

”ښۀ ، تۀ کار مۀ په لره دغه ورېندارګانې رنګ در بدوي“.

(c) ketabton.com: The Digital Library

”زۀ يې څۀ کوم خو دوی له ما نه کښېني ـ تۀ پړونی راکړه زۀ ځم“ـ

”تۀ لږ ودرېږه دوی ننوځي يو شی به در کړم“ـ

”زۀ بېزاره يم ستا له خوړو بس پړونی راکوه چې ځم ـ سره غرمه شوه“ـ

انارګله بيرته ورا تيره شوه ما ويل چې” نجيلۍ دې کوم هسپتال ته وړې ـ سرکاري ته که پرائيوټ ډاکټر ته “ـ

”زۀ په دې شيانو نۀ پوهيږم خو ماځيګر يې وړو“ـ

”بيا نو ښۀ وه چې پرائيوټ ته دې لور وړې وای“ـ

”خوره! واخله دا پړونی ، ګرسره يې درسره يوشه هر ورځ به دې تر ما پوري منډې نۀ وي“ـ

”ستا پړونی دی زۀ کله چيري وتلم ـ خور يې بيرته درته راوړي“ـ

”ما درته وويل زۀ يې نۀ پر سر کوم ، بس زۀ اوس ځم“ـ

قدرمنه تر دروازې ور سره ولاړه ـ

انار ګلې پر يور ږغ کړی ”ودې ليدله څنګه يې پړونی پټ ور کړی،خود يې پيسې هم پکښې ور کړې ـ خدای هم خپل کارِه پيږني ـ توبه توبه “ـ انارګلې خپل غوږونه ونيول ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

"قدرمنې! ماله خو ډوډۍ راوړه زۀ وږی یم" ـ
"اغاجانه! ولې داسې نارې وهې ـ ښځې خو در څخه بېزاره دي"ـ
"اوس ما هم دغسې بېزاره کوې لکه دوی"ـ
" یا یا"ـ
"خاندې ولې، دا د خندا خبره ده ـ تۀ هم لکه لېونۍ ټوله ورځ به باغو کې لګیا یې، خو لالاته ووایه زۀ خپل واده کوم"ـ
"ولې دوی خپله سترګې نه لري چې زۀ ورته ووایم ب یا به وایي چې سپین سترګې د ی ـ د دوی په وخت کې خو بابا ژوندی وو"ـ
"اوس که ما ورته ووېل بیا به وایي چې ډېر په عذاب دی"ـ
"که تۀ نه شې ورته ویلای، زۀ خو ورته ویلای شم ـ تۀ دا ډوډۍ در واخله ویې خوره او د ښځو په کارو باندې کار مۀ لره ـ سبا نور تور لاسونه در پسې مښږي ـ ماښام په کلکه لالا ته ووایه چې زۀ واده کوم ـ تۀ هم سوکه سوکه پر خپله خونه باندې کار شروع کړه ، د دوی هم سر در خلاسیږي ـ د هغو خو هم اوس ولور پوره دی، خالي د خوښې روپۍ مانده دي "
ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

"قدرمن! د ډوډۍ په خوند ولاکه پوهیدلی یم. ته دا لوښي یوشه، زهٔ څهٔ ارام کوم بیا ځم لمانځهٔ ته".
د ماښام لمونځونه چې وشو پ ه والې کي هم اوبه راغلې. ګړدي ښځې والې ته ولاړې. که د چا به د اوبو مشین وو هغو په‌مشین اوبه ډکې (یوړې). انار ګلې هم بالټۍ لاس ته کړه، روانه شوه. قدرمنې هم خپله خونې ته اوبه یوړې. پر والۀ به کله ښځو خپلې ګپې هم سره کولې.
د شاپېرو کور هم دوی ته مخامخ وو، اکثره به والې ته دې د میرۀ چیغارې راتلې "ما خلاس کړی، مړ مو کړم" چا چې به دا ناره واوریدله نو به یې ویل "خدای دې دماینې او د مور وزه (چاره) وکړي.
دا اتم کال دی چې دی داسي په ځنځیرا نو تړلی دی. په دې حال کي به هم دهٔ څکّول، ور وښو په د چرسو په سګریټ کي هیروین ور واچول. کله چې به د دهٔ چرس نه وو، نور به په عذاب وو. د کلي خلګو به ویل چې "دی ډیر زورور وو، خلګو په دهٔ تعویزان کړي دي، لیونۍ شو". چا به ویل چې" دهٔ ته چا داسي نشه ور کړه چې پر دماغ یې داسي بد اثر

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړی ځکه داسي لیونۍ شو. خوارکي له ماینې سره دوه کاله هم په شهٔ زړهٔ نه کړو تیر".

هر څه د دهٔ پر ځای وو. په جلا خونه کي تړلی وو. د دوی کره نه څوك د دهٔ له وهمه کور ته ورتلل او نه اوس دی د مړوښي وو. اوس خو یې خالي مور او ماینه پیرېندلې. څه وخت چې د شاپېرو کو ژده وشوه، د کلي ټولې نجونو به دا ورته ویل "لاتقي ارمان یې مهٔ کوه چې تهٔ یې د عبدالله غوندي هلك ته ور کړې بیا لا هم تهٔ خوابدې یې".

عبدالله، شاپېرو په خپله خوښه غوښتې وه. دی له دې حاله څه خبر نه وو چې زهٔ به لا دوه کاله هم په خوشالي نه کړم ور سره تېر. کله چې یې نشه نه وه نو شاپېرو به یې داسي وهله چې یوار یې د مخ غاښونه لا هم ور مات کړل. شاپېرو هم داسي شوه چې کله به ګایده، خپلو خبرو به سم درك نه ور کولی خو بیا لا هم خلکو ویل چې "دا ښه ښځه نه ده. د خسر د کور حیاء یې اخیستې ده".

کله چې به د پلار کره ولاړه، د وریندارګانو په تندي به پوه شوه. ولي خوارې به له وهمه شی نه شو غوښتی چې " تمامه ورځ به یې په دې سوچونو کي تېره کړه "خدایه! میړهٔ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورونړاو لېورۀ څومره پرق دی، د یوه شي نه سم ورته ویلای ۔
ومیرۀ ته خو سړی د هر شي په غټ زړۀ ویلای شي چې نن
مې دا شی پکار دی ۔ خدای یې فرق کړی دی ۔ یوه لور لرم
ناروغه ده ۔ سمې خبرې نه شي کولای ۔ خدای له هرې خوا را
باندې نغښتې ده".
د شاپېرو یور هم اوبو ته را غلې وه ۔ انار ګلې پر ږغ
کړی"څنګه یې، ولې نۀ راځې زموږ کره".
"څۀ درته ووایم ۔ انارګلې خورې! له یوې خوا هغه لیو نی دی
تمامه شپه او ورځ چ یغې وهي، له بلې خوا مې هغه لور ده ۔
نن یې هم هسپتال ته بوتله ۔".
"ښۀ، نو اوس څنګه وه".
"هغسې وه ۔ ډاکټرانو ورته ویلي وو چې په هسپتال کې یې
داخله کړی، خو دوی چیرې دومره وس لري ۔ ویل یې چې
موږ څو واره عبدالله په هسپتال کې داخل کړی، څۀ فایده
یې وکړه ۔ که جوړیده نو به پخپله جوړه شي".
انار ګلې لوټه په اوبو ډکوله په بالټۍ کې یې چپه کوله ۔
دشاپېرو هیندرور به اکثره د ښار په خوا کتل چې زما سړي
به یې لور د"هسپتاله څه رااخسږتې وي ".

(c) ketabton.com: The Digital Library

"ښځې، لور دې چا ور سره یوړه".

"هغې لېوې چې تمامه ورځ به یې په ما خولې لګوي. زه خو وایم چې یوار دې خدای په داسې شرمو وشرموي".

"هغه بیا ولې؟".

له دې خبرې انار ګلې پلو پر غاړه سم کړی، ولاړه شوه.

" انارګلې یې هیندرور ته غوږ ورا نژدې کړی "ټه خبره یې شاپېرو څه لري، دا څه وایې. د ه غې خو مېړه سم دم لېونی دی".

"لېونی دی که پرسد ، زما په خیال څه لري".

"توبه کاږه توبه ، دا څه وایې. مېړه یې په ځنځیر انو تړلی دی او دا خپلې مزې کوي".

"ښځه دا ګای زما له خولې مه کوه ، سمده".

"یا خوره لیونۍ خو نه یم. دا خو ښځه دې چې راته ودې ویل. دا چې څه زموږ کره راشي نو یې رنګ داسې معصومه نیولی وي چې نه څه کړي او نه څه خوري".

"ښځه نو زه به دا یو ټپال اوبه لا راوړم. داسې نه چې دوی وایي چې ړې ورکه وې".

"هو ورځه، خو دا خبرې خوندي و ساته".

(c) ketabton.com: The Digital Library

انار ګلۍ ژر ژر اوبه کښېښنولې ـ ماښام یې د کوشنیانو بشترې واچولې ـ سیده منا کې ولاړه وه ـ "کوشنۍ ورینداره چیرې ورکه ده ـ دا خو هم ګړده ورځ په خپله خونه کښې ناسته وي ـ د دنیا په یوه خبره هم ځان نه خبروي ـ تۀ چیرې یې؟"ـ

"دا یم لګیا یم کالي مې اشتري کول" ـ

"بل څوك خو نشته په خونه کې ماشومان (ټي.وي) ګوري ـ ستا لیور هم ناوخته راځي"ـ

"ښۀ ښۀ ، څۀ دي ویل"ـ

"ما د شاپېړو هندرور پر واله ولیده ـ ډیره خواشینې وه ـ ډیره مو ارمان شوه"ـ

"ولې بیا څۀ شوي وو"ـ

"تۀ دا کالي په الماری کې کښېږده ـ زۀ به نو بیا ګړده خبره درته وکړم ـ تۀ راشه دلته کښېنه، وروڼه یې همیشه دا وایې چې زموږ خور خواره زاره ده خو هغه به اوس ښۀ مخ ور تور کړي"ـ

"دا څۀ وایې؟"ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

”یوه خبره ده ، شاپېړو که هر رنګه ده ـ خواست به کوي خو داسي چم موږ نۀ دی پـه کي لیدلی ـ ځوك له دا رنګه سړي سره ژوند تیروي ـ ولاکه مي میرۀ داسي پـه ځنځیرانو تړلی وای، ولاکه یوه شپـه د بل کره تیره کړم ـ دا دي پر دې افرین شي“۔

”هغه ګرده در سره منم خو یور یې وایي د دې ته په ډېر وخت ناروغي نه ده ورغلې ـ ګرده کور شك پر لري چې د دې له کوشني لیوره سره لاس دی“۔

”ټوبه وکاږه داسي تهمت سړی پر چا نه لګوي“ ـ

”ریشتیا وایم ـ زۀ خو پر دې ویریږم چې خسر یې را ایله نه کړي بیا به دا زموږ له غاړې وي“۔

”زما زړۀ یې نه مني ـ خیر وخت به یې پخپله در ثابته کړي “۔

”لالا! شاپېړو داسي ناروغه ده، پرون راغلې وه لور یې هم ډیره ناروغه وه ـ ما ویل چې یو څو روپۍ دي ور کړې وای چې ډاکټر ته په تللې واي“۔

”زۀ اوس یوه روپۍ ن ه لرم ـ ورته و وایه تر پیلي دي صبر وکړي“۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

”د قدرمنې وروره! زۀ هم ډاکټرې ته تلم بیا به ما او دا یوازې سره ولاړې شو“.

”تۀ خو ما کرارې ته نۀ پرېږدې . ولاړه شه که اوس ځې هم ولاړه شه“. قدرمنه هم را ووتله .

”وریندارې بیا څۀ وشو“.

”نن قدرمنې د خور د پاره روپۍ غوښتلې چې ډاکټرې ته ځي . ما ورته وویل زۀ هم ورسره ځم ، ډاکټرې ته ځان ور ښکاره کوم بیا نو ټوله حال درته وایم . یوه خبره به درته وکړم ، خوا چې را څخه بده نه کړې“.

”یا ولي“.

”ګوره تۀ هم لوڼې لرې او زۀ هم . سړی د چا کمه نۀ غواړي“.

”تۀ خو دی راته وایې لکه چې ما بیا ټول کلی خبر کړی وي . زۀ خو خالي تاته وایم چې خدای نخواسته داسې کیسه هم وي نو باید مونږ ښۀ پر واچوو“ .

”خیر چې یو وار خو ډاکټرې ته ولاړې شو بیا به هغه وخت خبرې کوو“.

”خوره! تۀ ولي هر ساعت دلته راځې . ستا د وجې دوی ماته وایي چې ستا خور فکرجنه ده ، خواست کوي . هر چاته وایي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې زما میړۀ ناروغه دی،په ځنځیرانو کې تړلی دی. زۀ خو اوس په تا شرمیږم“.

د قدرمنې سترګې له اوښکو ډکې شوې ”ورینداريږ ویل چې تۀ نوره هم ناجوړه یې“.

”څنګه ناجوړه دا څۀ وایې؟“.

”هغې ویل کیدای شي کوشنی لرې“.

”قدرمنې! د دا یوې لور قسم خورم که داسي یم. زۀ خو پخپله د دې دپاره ډاکټر ته ځم چې ورځ په ورځ پړسیږم“.

کشرې ورینداري لږ بوره او د چاى پاڼې په تیلۍ کې ور واچولې”په دې به تۀ چاى پخې کړې“.

”نه غواړم ستا شیان. تۀ په ما پسې خبرې کوې ،اوس بیا شیان راکوې. له هره شي دې بیزاره یم. هیڅ هم نۀ غواړم. ما کومه ګناه کړې ده چې خداى داسي کړم. د خلګو ښځو ته وګوره ز ما ك میړۀ لیونی مه واى، په ځنځرانو تړلی نه واى. د خلګو له منته خو به وتلې واى. خداى زوى را کړى واى، پر زوى خو به کراره وم “.

”خوره! سبا ولاړه شه ډاکټر ته“.

(c) ketabton.com: The Digital Library

"هو، دا یو وار مي لا ډاکټر ته بوځی بیا نور ښۀ نۀ در ښخه غواړم ـ ما پرون یوه چرګه او یو درځن هګۍ خرڅې کړې ـ اوس څوك نۀ لرم چې ډاکټر ته مي بوځي".

"دی وکړه انارګله هم ځي ، دواړې ولاړې شۍ".

"خوره! تر دې ژوند خدای مرګ در کړی وای ښۀ وو ـ تۀ به دا ژوند په دا خواري څنګه تیروې ـ نۀ له خسرګنۍ بخت لرې او نۀ له میړۀ ـ د پلار و مور خو لا پریږده".

"اغاجانه! سبا خو له شاپېرو او وریندارې سره ډاکټر ته ولاړ شه".

"ښۀ اوس خو مو له ما ګرسه نوکر جوړ کړی".

"شاپېرو ډیره ناجوړه ده".

"یو خو مي دي خدای له دې خلاس کړي ـ اوس خو یې ګورم را اچولی دی".

"هو خود یې در اچولی دی که یې مور ژوندۍ وای او بیا تا دا ویلي وای بیا به یې تاته درك در کړی وو".

سهار دواړې اغاجان دکرایې په موټر کي بوتلې ـ د هسپتال مخ کي نورې کاډیانې هم ولاړې وې ـ اغاجان د ریسپن مخي ته ودریدی ـ د ډاکټرې نمبر یې واخیستی ـ اغاجان دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوارړې هلته انتظارګاه له بوتلې چې نورې ښځې هم ناستې وې. اغاجان دوارړو له د کوك بوتلان راوړل.

دی د نارینه خوا ته ولاړی، کښېنستی. انارګلې داسي مجلس اچولی وو لکه دا ټولې ښځې چې دې پیږندي. د شاپېرو نمبر راغلی،انار ګله هم ور سره ننوتله "خوره! دې خواته راشه ، ولي اول وار ډاکټرې ته راغلې يې".

شاپېرو خپل حال ډاکټر ته وویلی. ډاکټر ورته وویل "ور شه ډیرې اوبه وڅښه بیا دي الټراساؤنډ کوم ". انار ګلې ته ډاکټرې دوا ور ولیکله. څنګه چې شاپېرو اوبه وڅښې نو لږ ګړی وروسته ډاکټرې ته دا او انارګله بیا وراغلې. ډاکټر شاپېرو ته وویل"ورشه پر کټ باندي پریوځه".

انار ګلې پر ډاکټر ژغ کړی "ډاکټرصیبه! دې ته دا ډېر وخت ناروغي نۀ ده ورغلې. زۀ يې ګورم ،تۀ هلته ودریږه".

"ماشومان لري؟".

"یوه لور لرم".

"د څو کالو ده؟".

"اوس به يې اتۀ کاله کیږي".

(c) ketabton.com: The Digital Library

”نو نور ماشومان ولي نۀ ر اوړې؟“. انارګلې غوږ ټينګ ورته نيولى وو.

”بي بي! تاته وايم ماشومان راوړه . په نس کښي دي دانه ده . دا چې کله ښځه کوشنى پيدا کړي نو ختم شي، ګني له دې څخه غټ تاوان جوړيږي . درد وي؟“.

”هو درد يې مۀ کوه . داسي درد چې زۀ وام اوس به کوشنى پيدا شي خو نۀ پوهيږم چې زۀ څۀ وکړم“.

”زۀ دوا در ليکم چې خداى دي دا ناروغي ښه کړي او خداى اولاد در کړي . له دې څخه نورې ناروغۍ پيدا کيږي“.

”ډاکټرې! کوشنى نۀ شم راوړلى . زما ميړۀ په ځنځيرانو تړلى دى“.

”بخښنه غواړم، دا خو بيا ښه خبره نۀ ده “.

”ډاکټرې! ټول کلى ګمان کوي چې داکوشنى لرې“.

”زۀ دوا در ليکم، تۀ ژاړه مۀ . خداى به هر څۀ خير کړي . خداى دي تاته نوره هم حوصله در کړي“.

شاپېرو اوښکې پاکې کړې ، را ووتله ”زما بخت ښکاره دى“.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځنګېدو

د کلي په سر کي ډېره لويه کلا ده ، لوي ګېټ يې د
ختيځ په لور ې وتلی وو. د بازمحمدپه نامۀ يادېده . تر مخ
يې واله تېره شوې وه ، د والې په يوه او بله غاړه ډېر ې
پخوانۍ د تورو،سپينوکشمشي توتو غټې ونې ولاړې
وې.
له دې کلا د بازمحمدد پينځو سپين ږيري زامنو ،بې
شمېره ځوانان او واړه زامن او لونيي را وتې. د ټولو زامنو
يې پېغلې لونيي هم وې . ټول کلی د حاجي بازمحمد د
زامنو وبخت ته حېران وو.
په دې کلا د بدبختۍ بلا هغه ورځ دننه شوه چې عبدالله د
احمد زوی د خپل مشر اکا لور زينبه ته طلاق ور کړی. پلار
عبدالله يې ويل"زويه! ولي دي داسي وکړو".
"بابا! تا له ما پوښتنه وکړه چې زۀ زينبه تاته درغواړم".
"په هغه وخت کي تۀ ماشوم وې".
"تا ته چا وويل تۀ و ماشوم زوی ته وادۀ وغواړه چ ې هغه په
خبره هم نه پوهېږي بياهم تاداسې وکړل ولي باباولي؟".

(c) ketabton.com: The Digital Library

"زويه! دا خو ما يوازي نه دي کړي . ستا هغه دوو نورو اکاګانو هم خپلې لوڼې يوۀ و بل ته ورکړي دي".

"بابا! هغو هم غلط کار کړې دی کومه يې داسې توره ولې ده".

له دغې ورځې پس احمد د عبدالله پلار له شرمه په هغه لويه کلا کي د ېوال ووهلی . د خپل کور دروازه يې د جنوب پر خوا ور کړه .

زينبې يو ورور بله خور نغمه هم درلوده . سهار پر نغمه دوره راغله، نجيب او خپلې مور هسپتال ته يو وړه ، دورې يې ډاکټر ته ور ښکاره کړه . ډاکټر په هسپتال کي داخله کړه، نرسانې راغلې ډريپ يې ور ولګاوه .

چې ډريپ پر ختمېدو شو نغمې سترګې روڼې کړې " تنداري! زۀ په هسپتال کي يم،په ما څۀ وشو،زۀ کور ته ځم په ما هيڅ نه دي شوي . ما کور ته بوځی". ډاکټر راغلی نجيب ته يې يو پرچه په لاس ور کړه"د سر ايکسرې او دا ټېستونه يې وکړه".

(c) ketabton.com: The Digital Library

نغمه تنداري تر لاس ونیوله، سوکه سوکه یې روانه کړه چ ې د سر ایکسرې یې وشوه ، وینه یې واخیستله . تنداري نغمه تر لاس نیولې، بېرته یې سوکه سوکه خپل کټ ته راوستله .

نرسې بل ډریپ راوړی ، بېخي اوړ ډریپ وو ، هغه یې ور ولګولی . نغمه پر کټ پروته وه .

"تنداري! زۀ جوړه یم، نجیب راوغواړه چې کورته ځو".

"لورې! نجیب په ټېستهو پسې تللی دی چ ې هغه راوړي ، و ډاکټر ته یې ښکاره کړي بیابه که خیر وو کور ته ځو".

"تنداري! نجیب څۀ شو".

"راځي لورې! تۀ لږ وار وکړه".

نجیب راغلی د ټېستهوکاغذونه او ایکسرې یې په لاس کي وې، نغمه یې ولیده له موره سره ږغېده، ډېر خوشاله شو.

"نغمې څنګه یې".

"نجیبه اوس ډېره ښه یم بس درځه چې کور ته ځو".

"ګوره نغمې! موږ د ډاکټر بې اجازې کور ته نه شو تلای .

ډاکټر را روان دی له تا یوه پوښتنه کوي ، زما خبره یې نه منله".

"د څۀ پوښتنه".

(c) ketabton.com: The Digital Library

"ډاکټر وای دا تاسو وهلې ده ،سر ته یې چوټ ورغلی دی ـ ډاکټر ته به په خپله حال ور کړي".

ډریپ ختم شو ـ د ډاکټر تر راتلو نغمه پر کټ ناسته وه ، وخپلې تنداري ته رېغېده "هغه بله شپه چ ې عبدالله نجیلۍ راوړه بیا یې څۀ په وکړو".

تنداره "هغه یې د شپې پلار او وروڼه راغلو بویې تله، زموږ وسړو ته یې ویلي وو چې په عزت به دوستي سره وکړو ـ ها دا یوه خبره یاده ولری، تاسو به دوې نجونې راکوی".

ډاکټر چې نغمه ناسته ولیده خندل یې "تۀ خو دایې جوړه شوې یې ـ لورې! داسي دورې مخکي هم وې".

"نه".

"دا اول وار دی".

"هو".

"دا خو دي سر چوټ خوړلی دی ـ نجیب ته یې مخ ور وا ړاوو، ستاسو خو ښځې وهی هم، تاسوخوبه وهلې نه وي".

نجیب وخندل "صاحبه! دومره غصه ناکه ده چ ې موږ ټول کور په بسم الله شپې ور سره تېره وو".

(c) ketabton.com: The Digital Library

نغمه په دې سوچونوکي ورکه وه . هغه وخت ور په یاد شو چې "غرمه به د کور مشران ویده شو ،مور به یو یو،سوکه سوکه، په پټه له خپلې ځپلې خونې را ووتو، تر له غرمه به موپه باغونوکي تېره کړه . د مرغيو ځالي به مو کتلې یا به مو په واله کي ټوپونه وهل چ ې سرتېږي به شو بیابه د لوی توت تر سایه لاندي په ټالونو کي ځنګېدو . یوه ورځ ټال پرې شو، زهٔ ولوېدم . داسي مي په یا د دي لکه اوس دستي چ ې تر سترګو مي د اور بځرکي وغورځېدو".

ډاکټر د نغمې پر سر لاس کښېښنودی "لورې! ستا په یاد دي چې ستا پر سر یو وخت یو شی ولګېدو". نغمه لکه له خوبه چې وي "څه".

"ستا په یاد دي، سر ته دي یو وخت هم چوټ ورغلی دی".

"هو صاحبه! هغه وخت چ ې ز ۀ ډېره وړه وم ، په ټال کي ځنګېدم، د ټال رسۍ پرې شوه ، زهٔ تر ولوېدم ، سر مي پر مځکه ولګېدو . هغه وخت مي تر سترګو لکه د اور بځرکي چې وغورځي . له وېرې مي په کورکي دانه شو ویلای چې زهٔ تر ټال ولوېدم چ ې سر به مي ډېر درد کاوه ، مور ته به مي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وويل موريږ! سر مي خوږېږي ـ هغې به د سر د درد ګولۍ راکړه بل وخت مي نه دي په ياد".

ډاکټر "تاسو بل وخت دا نجلۍ ډاکټر ته نه ده ښکاره کړې".

نجيب "ډېرو ډاکټرانو ته مو ښکاره کړه، هر وخت به يې مړه تبه وه ـ په کور کي ګزاره نه ورسره کېده ، ټول کور په بسم الله ورسره ګرځېدو".

ډاکټر "د دې نجلۍ سر ډېر سخت چوټ خوړلی دی ـ اوس دا دواګانې ور کوی که يې فرق ور سره وکړی، خو ښۀ تر ښۀ ـ که يې نه کړی وه بيابه اپرېشن ور کوو".

نجيب "سمه ده صاحبه!".

ډاکټر ووتو، و نغمې ته هغه علاج ورشروع وو ـ بېخي ډېري شپې يې په هسپتال کي وشوې ، د کور نر و ښځې پر وار ورښتږ ته وراتلو ـ يوه ورځ زينبه او د کور نورې ښځ ې راغلې، زينبه پاته شوه ـ تنداره او هغه نورې ښځې يې ولاړې ـ نغمه پر کټ پروته وه ، ډريپ ور لګېدلی وو ـ زينبه مخامخ پر بېنچ ورته ناسته وه ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

”زینبې خورې! هغه عبدالله چې نجلۍ راوړه ، هغه یې
ځنګه کړه ـ زۀ خو په دې خپله ناروغي نه یم حېرانه ، په هغه
کیسه حېرانه یم ـ تۀ اوس صفا حال را کړه، زما خو د دې
نورو په خبرو باور نۀ کېږي ـ زۀ وایم دوی به وماته هسې
تسلي راکوي“ـ
”هو دا رښتیا دي چې په هغه شپه یې پلار او وروڼه راغلو ،
بویې تله ـ ورته ویلي یې وو ،سمه په خوشالي به یې در کړو ـ
هم به ستاسو پرده خوندي شي ، هم به زموږ او له دې سره
سره یې دا هم ورته ویلي وو، تاسو به دوې نجونې راکوی“ـ
”ښۀ دی ، خدای دې نور ه هم وشرموي ـ خورې! زما خو پر
عبدالله له هغې ورځې ستړګې نه رېږي ، په کومه ورځ چې
یې وتاته طلاق در کړی“ـ
”که دي سترګې پر رېږي که نه ، اوس په کور کې تۀ او د
نجیب خور سلطانه پاته یاست ـ وهغو خلګو ته که یې ور
کولې نو تاسو دوې ور کوي ـ ما خو له شرمه وهغو ته نه شي
ور کولای“ـ
”ما به ولي ور کوي ـ زۀ یې مور .... ، تۀ یې طلاقه کړې ـ ما
به د خپلې ښځې په پور کې ور کوي“ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

”یا ستا ده خو نجیب ور خلاصه کړې وه چ ې نغمه زما ده.
په خدای که یې ور کړم چې لس مړې کوي لا هم“.
”زۀ نجیب هم نه کوم“.
”نغمې! تۀ لېونۍ یې، زموږ په کورکي تر نجیب ښاه سته او
ښۀ عمله انسان بل شته“.
”زما و نجیب ته زړۀ نه غواړي. نجیب وماته داسي ښکاره
کېږي لکه زما ورور،تنداره مور“.
”نجیب چې تر تا لاس کښلي دي، هغه ځنګه کوې“.
”نجیب خو به لېونی وي، زۀ خو نه یم لېونۍ“.
ماښام یې دوه اکاګان راغلو، د نجیب پلارسیدو ،د عبدالله
پلار احمد.
احمد دومره په زوره زوره ژړل چ ې د وارۀ ټول ناروغان ورته
حېران وو. یوار به یې د زینې سر په غېږ کي ونیوو بیا به
یې د نغمې چې ښۀ یې خروښ کښته شو بیا یې ونغمه ته
وویل ”لورې! ما دي خدای له زویه خلاص کړي ، په شرمو
یې وشرمولم. نه ستاسو تر مخ لوړکتلای شم، نه د وروڼو
پرېدي خو پرېږده“. ټولوخپلې خپلې اوښک ې پاکولې چ ې
احمد ونغمه ته په ژړغوني ږغ خبرې کولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

"لورې! هغه خلګ له موږه دوې ښځ ي غواړي ، په پرېدي خو يې فرق نشته ـ موږ بدنامي ور اړولې ده ـ که يې وتاته لاس ونيوو خو د کور د مړۀ اور بځرکي به پوه کړي، لمبې به يې يو زموږ کور څۀ پر درسته قام وګرځي ـ موږ دا جوړه کړې ده چ ي ستا نکاح له نجيب سره نن نن وکړو ـ يوه سلطانه به پاته شي که يې کوله ټيك ده ، که يې نه کوله په مخه دې ښه شي".

نغمې له اوښکو ډکې سترګې ور واړولې، د سر په اشاره يې ور سره هوکړو. کاکا يې يوار بيا سر په غېږ کي ونيوو ، په زوره زوره يې وژ ړل بيا يې پرېشانه را وکتل ـ دواړو د خپلو سترګو اوښکې پاکولې پله پسې ووتو ـ نغمه، زينبه او نجيب په هسپتال کي پاته شو ـ څو ورځي پس ډاکټر ودوی ته رخصت ور کړی چې اوس کور ته ولاړ شئ ـ لس ورځ ې پس به يې بيا راولی ـ

نغمه له هسپتاله په وتو دومره خوشاله وه لکه د اختر ورځ چې وي چې دوی په موټر کي کښېنستو ،لالا يې هم راغلی ـ د زينبې او نغمې دا يو مشر ورور له نجيب سره يې روغبړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړو بیا یې د نغمې سر په غیږ کې ونیولو. نغمې ژړل "لالا زما دومره شپې په هسپتال کې وشوې، تۀ دا یې نن راغلې".
" نغمې ! تۀ خو په دې خبره یې چ ې بل ځوك په کور کې نشته، ټول کارونه وماته ګوري" .
موټر ته وختو ، موټر نجیب چلاوو . لالا یې په مخ کې ورسره ناست وو. نغمه او زینبه خور په شا کې په لارې نجیب مخ پر شا را واړاوو"نغمې! اوس لا په ښا ر کې روان یو ،څۀ ته دې زړۀ کیږي اوس لا ږغ وکړه" .
د نغمې وقلفي ته زړ ۀ کیدو ،هغه وخت ور په یاد شو چې موږ لږ غټې شو بیا یې تر کور دباندې نه پریښودو چې د قلفي والا ږغ به مو اوریدی . زینبې خور به چوکیداري کوله، زۀ به ورغلم قلفي به مې راوړې . یوه هغه مینجارۍ چې پټه په غرمه کې به زموږ کور ته راتله . یوه ورځ عبدالله ولیده چې څه یې پر خولۀ ورتلو هغه یې ورته ویل".
نجیب "نغمې! تۀ ولې ږغ نه کوې ، څۀ ته دې زړ ۀ کیږي چې را وایې خلو".
"قلفي".

(c) ketabton.com: The Digital Library

لالایې وخندل "په خدای که هغه د ماشومتوب عدت پرېږدي". نجیب موټر ودراوو، دوه اسکریم یې را واخیستو، یو یې زینبې بل نغمې ته ورکړی ". نغمې په لارې څو کاچوغې ځیني وخوړې نور یې تر کوره په لاس کې اوبه شو. کور ته چې ورسېدو، په کور کې د کور ښځې، ماشومان ورباندې ټول وو. اکاګان، تربرونه ټول راغلو ښېښتنه یې ورسره وکړه. نغمه دننه ولاړه پرېوته. سترګې یې سره ورغلې وې چې په خونه کې یې ژړا تر غوږ شوه چې را وغورځېده. تنداره راغلې وه، زینبه یې په غېږ کې نیولې وه. د زینبې د خور وغیرت ته نغمه فکرو یوړه، حېرانه وه. تندارې د عبدالله مور ژړل، دې تسلي ور کوله. "لورې! مور دې خدای له زویه خلاص کړي، ما و پلار خو یې په شرمو وشرمولو. په دې خوا را کتلای نه شو. لورې! چې دا مې واورېدو، نغمه یې له هسپتاله کور ته راوړه. هر څه مې وکړو تر وس مې ووتل را روانه شوم".

نغمې ته راغله، ور باندې وغورځېده (په غېږکې یې ونیوم) ډېرې اوښکې یې توی کړې. ښځې تر ډېره ودېوال ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناسته وه ،تر خولۀ يې څه نه وتو. اخر يې اوښکې پاکولې ولاړه شوه، ووتله".

څو ورځې پس د عبدالله د خسر د کورنۍ سړي و ښځې دوی کورته ورغلو. ډوډۍ يې وخوړه بيا يې دوی سړو ته وويل چې "مونږ نجونه څه، يوه روپۍ لا له تاسو نه غواړو. مونږ په خپله لور ملامت يو. په څو څو واره يې ومونږ ته وويل ز ۀ دا سړی کوم. ما ودې سړي ته ور کړی، اوس چې مونږ سوچ وکړی خدای ته مو مخ کړی، خلګو ته شا. دا بدنامي هم ځان ته هم تاسو ته مونږ اړولې ده".

درې مياشتې پس د نغمې او نجيب وادۀ سره وشو. له هغې ورځې پس نجيب پر نغمه ورځ تر هغه بله ګرانېدو.

يوه غرمه نجيب ورته وويل "نغمې! څۀ ته دي زړۀ غواړي ".
نغمه چپ وه.

دۀ بياوويل اوس چ ې "تۀ خدای زما په برخه کړې اوس ته حکم کوه، زۀ حاضر يم".

"نجيبه! درځه چ ې ماځيګر دباندي ووځو ،جوړ په باغو کي وګرځو بيا را شو. تر هغهِ غټ توت لاندي کښېنو ، ،تر کم لاندي چې به مونږ په ټال کي ځنګېدو".

(c) ketabton.com: The Digital Library

”لېونۍ داخلګ او کور به څۀ وای“.

”هر څۀ چې وای ،وای دې زه دچاپه کیسه کې نه یم“.
ماځیګر نغمې ځان تیار کړی، نجیب له مخه دا ور پسې
شوه - جوړ یې په باغونو کې ځان سترړی کړی چ ې کله به
نغمې د ماشومانو چل وکړی، ور باندې وبه غوځېده یا به
یې په غېږ کې ونیوو - نجیب به ژر په باغ کې شا و خوا
وکتل چې داسې نه وي په باغ کې څوك او ښلري یا وابنۀ
کوي - لمر لوېدو چې راغلو تر هغه توت لاندې کښېنستو -
نغمې نجیب په غېږ کې ټینګ ونیوو.
”دا هغه توت دی چ ې ما و تا به تر دې لاندې په ټال کې
ځنګېدو“.
بیا یو کړی چوپ ناسته وه په دې وخت کې دنجیب پام په بله
اوښتی وو

چې نغمې داسندره په خپل خواږه اوزکې له ځان سره زمزمه
کوله :ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ساعت کې مې ژړلای
په ساعت کې مې خندلای
چې په ځان نه پوهېدلای
زه هم هغسې وړه وای
نجيب چې سترګې ورواړولې دنغمې سترګې له اوښکوډکې
وې څڅېدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مسافر

د مودو مسافر چې د ېر ي کرېږ لاري ، لوړ ي ژور ي يې تر پښو کښلي وې چې پرې شوندي، تاکي پښې، ستړی ستومانه. یو ماښام د یو کلي له څنګه تېرېدو، یو سړي ور ږغ کړو" څوك يې؟"

" مسافر یم" .

" چېري روان يې؟" .

" په مستقبل کي مقام غواړم" .

" وروره په خدای که مي پردې نزدې اوېجه (په دې نزدې علاقه کي)د چا په خولهٔ کي د مستقبل یا مقام نوم اورېدلی دی . وروره! غلط به يې په دې دواړو نومونوکي. نه به د کلي نوم دا وي، نه به د هغه سړي. تهٔ راشه پاته شه ، شپه به وکړو لږ به اوسا شې. سبا به که خیر وو خپل سفر ته به دوام ور کړې" .

" نه وروره ! ستړی ستومانه يم ، که يوار کښېنستم بيا خدای خبر چې ولاړ شم" .

" تهٔ راشه، پښتانه وای پر ماښام له هديرې هم سړی نه ځي" .

" هو اورېدلي مي دي وای که دي شپه پر بيابان شوه، هديره در نزې وه ځان ور رسوه ، شپه په هديره کي کوه " . له لار ې راواوښتو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوربانه ته د مېلمانهٔ دې خبرې ښهٔ خوند نه کړی ور چې زما کلی او کور يې هديره وګڼلی ـ ومیلمانهٔ ته يې د روغبړ لاس ور کړی ـ تر سرای د باندې سره ولاړ وو.

مېلمه " وروره! دې خبرې دې ښهٔ خوند نه کړی را چې زما کلی او کور دې هديره وګڼلی" ـ

" وروره! که ريښتيا درته ووايم چې تا راباندې ږغ کړو ، وماته هغه د پخواني ساده قام خبره را په ياد شوه ـ دوی چ ې به ويل پلانۍ هديره ولاړېده يا ولاړېږي" ـ

کوربه څه په تونده لهٔجه وويل " ز ۀ نه يم سړی چ ې وتاته مې ست وکړی" ـ

" نه وروره ! داسې نه چ ې وماته يو ستا کور او کلی هديره ښکاري ـ که ريښتيادرته ووايم د پښتنو هر کور، هرکلی هديره ده" ـ

کوربه د سرای د دروازې پرده پورته کړه ـ کوربه لمخه ، مېلمهٔ ور پسې وو ـ وړوکی سرای چ ې دوې خونې پکښې وې ، په يوه کې کوربه او مېلمه کښېنستو ـ په هغه بله د کور خونه وه ، ډوډۍ راغله ـ وهرچاته معلومه ده چ ې ستړی او ستومانه وږی ډوډۍ دومره په خوندخوري ،د ماړ ۀ سړي لاشوق ورته وشي ـ

کوربه دې ته فکر وړی وو چې مېلمه څومر ه په خوند ډوډۍ خوري ـ مېلمه دې ته له هغه بلې خوږې، د ښځې داسې ږغ راتلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې زړونه يې لړځول، هغې خوارې هم څه سندري نه زمزمه کولې
ـ يو ماشوم ته يې الله هوکول ـ مېلمانۀ له کوربانۀ وپ وښتل"
وروره! دا ښځه دي څۀ ده ماشوم ته چې الله هو کوي" ـ
" مور" ـ
" تۀ چې د مور په دې رږغ کې الله هو اورې، څۀ محسوسوې" ـ
" نه وروره! ز ۀ د ماشوم چيغې اورم ـ کله مې هم دې ته فکر نه
دی شوی چې مور مې الله هو ورته کوي ـ نن مې هم تا فکر ور
واړاوو" ـ
مېلمه وخندل " فکر خو مړ ۀ نه کوي ـ د ماشوم خپله مورچېری
ده؟" ـ
" هغه د خدای په کار شوه ـ اوس يې (انا)زما مور ګزرانه وي ـ
خير ته دا خبرې پرېږده، خپل حال را کړه ـ نوم دي څۀ دی، د کوم
ځای يې؟" ـ
" وروره! نوم نه لرم ځکه را وتلی يم، نوم په مستقبل کې غواړم
، په ماضي کې اوسېدم ـ په يوه ورور مې سبق ويلو هغه په پنځم
کې سبق پرېښودی، ګرځېدو، لغړتوب يې کاوۀ ـ نن دلته جنګ،
نن ه لته غلا ، په دې ستړی شوم ـ نن د دې پر کور خلګ به راسره
وو ،سوالونه کوه ، پور ور کوه ـ نن د هغه پر کور بيا خدای يو
سړی پر مهربانه کړو ـ د چپړاسي(نائيب قاصد)نوکري يې ور

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړه، که څه هم هغه مهربانه سړي نوکري ور کړه هم زماپه ښه نه شو.

بیا مي په نورو دوو وروښوسبق شروع کړو . هغو یوه تر اووم بل په نهم کي پرېښودو . دواړه چرسیان شو چې له دې خپلې کورنۍ مي هیله وختته ، د اکا کور ته مي مخ ور واړاوو چې د یوۀ اکا وزوی ته مي خور هم ناسته وه . د هغې خپلې خور لور بې بې نسیمه مي راو ېسته ، ور سره د کاکا د هغه بل زوی لور بي بي حمیده هم راوېسته . خپله لور بي بي فاطمه مي د نسیمې ورور (خپل خوریي ) ته ور کړه . په درو سره مي سبق ویلو ، پوروته ، دارونه، سترې ورځې، سرې غرمې ، د کلي پېغورونه مي پر یوړو . لنډه یې دا ، په دې درو سره نجونو مي تر لسمه سبق وویلو.

خپله لور بي بي فاطمه مي وخپل خوریي ته واد ۀکړه . دوی دواړو وروښو ته مي وویل چ ې دا دواړه نجونې په دې خپل کور کي یو د بل زوی ته سره ور کړی . دا خپل کور به مو په ښاه ستړه وي . نور که نه وي سبا خو به دا خپل اولاد په پاللي وي .

یوه ورځ په هوټل کي ناست وم . د اکا مشر زوی مي راغلی چې ته به دریمه ورځ راشې، زما له خپل اخښي سره دوستي ده .

"ښځه ځیني غواړې یې که یې ورکوې" .

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه په سری (مخی)ده ، حمیده ور کوم دی خپله لور زما وزوی ته را کوي.

" حمیده یې وکوم زوی ته ور کوې" .

" هغه په ښار کي چې د لاریو، موټرو د ګریسوکار کوي" .

" وهغه ته چې یو توری سبق یې نه دی ویلی، تمامه ورځ په ښار کي لغړتوب کوي . ولاړېږه چې بیا دي مخ نه ووینم" .

" تهٔ چې راسره نه یې نوخلګه به ضرور ښېښتنه کوي چې مشر یې چېري دی چې کشران یې راغلي دي" .

" اوس دي کشر و مشر تر له وپېژندل . ولاړېږه، ولاړېږه خولهٔ مي مهٔ پرېکوه" . ده خپل څادر پر اوږه کړی، ګوټونه یې په پښوکول، زما پر خوا یې کتل ، هیله یې لاته وه ختلې . ما یې له دې واره په قسم هیله ور وکښه، روان شو.

څه موده پس یې هغه دویم ورور چې زما اخښی ،هم مي دوست وو (زوی ته یې زمالوربې بې فاطمه ناسته وه ) راغلی چې" زما دوستي ده . بې بې نسیمه ورکوم" .

" وچا ته" .

" د پلاني وزوی ته" .

" دا څهٔ کوې، په کلو یې په خپل کور کي شپه نه ده کړې" .

" مړا تعلیم یافته دی" .

(c) ketabton.com: The Digital Library

" دې ته تۀ تعليم يافته وايې چې د پلار په ښۀ دی، نه د ورور۔ د بل پر کور اوسي، د بل په خرچه يې ګزاره ده" ۔
" نه، هغه يې ما ورونو ته ووېل ۔ دا ذمه واري به يې کوې چې خپل کورته به ځي" ۔
" ياره پخوانوڅومره ښۀ ويلي دي (چې ډېرغوځې اخر پرځې(غوځارېږې))۔ هغه مي هم د هغه مشر په رنګ جواب کړی بيا تر ننه د دوی کور مانه دی ليدلی ، نه مي خيال دی چ ې ويې وينم ۔ له دې پس مي پر دې ډېر سوچ وکړی چې کومه لاره خپله کړمه ۔ له ډېرو سوچونو پس مي د ادب لاره خپله کړه ، دايم چې په حال کي پر را روان يم، ځم به ځم چې تر کومه ځايه ورسېدم" ۔
کوربۀ " په حال کي دي څۀ د مستقبل يا مقام نخښي ليدلي دي" ۔
" ډېرې" ۔
کوربۀ " زما په خيال دا هر څۀ په تقدير کي ليکلي وي ۔ د انسان د وس خبره نه ده" ۔
" منم دا ډېرو خلګو راته ويلي دي خو ما دا اراده کړې ده چ ې تقدير دي خپل کار کوي، ز ۀ به خپل ۔ سره ګورو به چې خدای له ده شي که له ما" ۔
کوربۀ وخندل " ياره! دا لېونی مي نن وليدی چې له تقديره سره شکېلي(مقابله کوي)" ۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سر د مځکې جنتي

د ژوند شپې او ورځې داسي تيريږي چې سړي ته درك لا هم نۀ ور كوي ـ انسان ځان ته معتبره وايي چې تر ما بالا يو شى هم نشته ـ هر څوك وايي چې (اول ځان دى بيا جهان دى) ـ په ټكنده غرمه كي به هم ذوليجه نۀ پريوته، تمامه ورځ به ګرځيدله ، لاس به يې نۀ دريدى ـ
غرمه به چپه چپايي وه ، خالي د ميچانو بنهارى به وو ـ
ذوليجه به د منا په خولۀ كي ناسته وه، خپل د ستني كار به يې را اخيستى وو،په لګيا به وه ـ
د نن سبا په وخت كي هم د دې لاسونه او پښې داسي چاودلې وې چې په هر چاك كي به يې خيري او تور كنې بند ول ـ
خدايه! د دې له حاله مو وساتې ـ د دې تر خولۀ كله هم نۀ داسي ګاى را ووتلى چې د سړي زړۀ په خوږ شي ـ كله چې به يې خوابښې را ووتله نو دا به په دربن كي ناسته وه ، تر ماځيګره به په خپلو سوچونو كي وركه وه ـ خوابښې به يې په خښم ورته وويل ـ
"را ولاړيږه ـ زما د ماځيګر له ناستې څخه ډيره بد راځي چې څوك په دربن كي ناست وي بل ستا له دا تور ټيكري ـ څو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځي مي درته ويلي دي دلته ډيره ناسته پاسته مه کوه ،
خلک به څه وايي چې په کور کي خود ځای نه ور کوي". دا
به سپکه پورته شوه ،نور رېغ به يې نه کولی. خوابنې به يې له
ځانه سره وبڼېده"اې زما خواره نصيبه! زما له دې ګورمه څه
وو. هغه ښاهسته زوی مي په اخته کړی چې بلې کوزده مي
هم ور له کړې ده او دې ذوليجې ته وګوره چې مور،پلار او
ورونړ ته يې دوه وخته ډوډۍ هم نه شړه ور کولای. يو وارچي
مي د ليورۀ ښځه وه به ټکوله،هغه خو ښۀ شو چې خدای له
عذابه خلاص کړی بيا چې ورونړ له ولاړه. د ورينداركانو
هغه بدي پښتو څخه بيرته زما در له راغله. زۀ هم مجبوره
شوم،دا مي زوی ته په نکاح کړه، ګني د ليور ښځه ډير زور
غواړي چې سړی يې زوی ته په نکاح لګوي".
ذليجې د اوبو څخه ډکه بدنۍ را اخيستې وه "ها تنداري! دا
اوبه واخله خپل اودس په وکړه".
"تۀ نن ولي له ځانه سره رېغيږې او بل دا ستا لاسونه څنګه
ککڼ دي. ماښام به بيا سليم خښم درته کوي".
"هغه نۀ صفا کيږي. ما څو واره په ليپ ومينځل خو نۀ صفا
کيدل".

(c) ketabton.com: The Digital Library

"ذولیجې! یو وار یې په ګریس ښهٔ غوړ کړه بیا یې په پلاستیك کښې وتړه ـ څنګه نه صفا کیږي".

"له ما سره نهٔ ګریس شته او نهٔ خوښبوي صابن بل تنداري!ما هلته ګړده ورځ لوښي او د کوشنیانو وړیان مینځل کله چې به مې نهٔ ومینځل نو وریندارګانو به راته ویل دغ سي ډوډۍ نشته اوس به دغه کارو ته ملا تړ ې ـ تنداري!تهٔ به ماته بدعا کوې چې ما په خولهٔ ستا زوی وکړی ـ زهٔ ستا له زویه هیڅ هم نهٔ غواړم ـ

ما مخکې هم له تا سره دوه کاله تیر کړل ـ زهٔ ستا په نیت نهٔ یم پوه شوې چې کله دې بد راسره کړي وي ـ خو زهٔ نن حالاتو تر دې را ور رسولم ـ د پلار کره، وریندارګانو هر رنګه بهتان پسې راتړل ـ تهٔ خپل زوی ته په خوښې واده ور وکه،زهٔ خوا نهٔ بدوم".

"ذولیجې! زهٔ منم چې زهٔ او زما مشره مړور به له تا سره د ښهٔ ژوند تیرولو کوشش کوو ـ خو داسې نه چې سبا دې بن راشي بیا هیڅ نهٔ کیږي ـ زهٔ به لکه مینځه د هغې او د هغې د بچیانو خدمت کوم".

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذولیجه ولاړه خپلې کوټې ته ـ یو وار یې لاسو ته کتل بیا یې خپلو جامو ته ـ سلیم چې څنګه د مور کوټې ته ور ننوتی
"موره!زما بشتره بیا چیري ده ".
"سلیمه!ماشوم خو نه یې ، ورشه هغ ه خپلې خونې ته ـ هغه خوراکی ستا په انتظار وي ـ هغه یوازي څنګه بیده شي،خلک ولي را پوري خندوې".
"مورکی! په قسم چې هغې له زما زړۀ نۀ غواړي ـ زۀ خو وایم چې هغه اوس هم د کاکا کور والا ده".
"نو بیا دي نکاح د څۀ د پاره ورسره وکړه".
"څه ورشه ـ ما ستا د انا او د خپلې میرې خواری لیدلي دي ـ زۀ پر دې مؤمنې ظلم نشم کولای".
سلیم زړۀ را ټول کړی،کوټې ته ورغلی چې ور ننوتی دا په بشتره کي پرته وه ـ سلیم شا وخوا په کوټه کي وکتل،په خونه کي یو پلنګ او شوقیس (چې د هغه هم شیشې ماتې وې) پروت وو ـ یو څو مات کډي کډي لوښي پکښې پراته وو بل هیڅ هم نۀ وو۔ یوه زړه کمبله پکي ه واره وه ـ پر پلنګ یوه زړه نیالي او یو بالښت پروت وو ـ سلیم چې پر کټ پریوتی نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلپنګ چيغکی شو ـ ذوليجه چې راټوله شوه "څوك يې؟،
څوك يې؟"ـ
"زۀ يم ـ ناريې مۀ وهه"ـ
"سليمه!تۀ دلته پروت يې ـ تلتك د راوړم ؟"ـ
"يا ،يا ويده شه ـ ګرمي ده ،زۀ په پټو کي ويديږم"ـ
"سمده"ـ
"موره!نن ولي داسي ناسته يې لکه يو شی چې د ورك وي؟"ـ
"هو امينې! مابښام لږ پر کراره ويده شوم ـ سليم مي مابښام
وليږلی د ذوليجې خونې ته، ما ويل لږ به ور سره عادت شي
ـ پلار يې ويل زۀ سليم ته وادۀ ور کوم ـ ما ويل دومره ژر يې
نۀ ور کوم چې د ذوليجې يو کوشنی ځينې وشي نو به دا پر
خپل اولاد کراره وي بل به سليم هم لاس نۀ ځينې اخلي"ـ
"والله موره!ډيره هوشياره يې"ـ
"ای زويه! د بل د کور خواري ډير زور غواړي"ـ
"بس موره! زۀ خو هر وخت شکر ادا کوم چې خدای ستا رنګه
خوابښې را کړه ـ موره! تا به ذوليجې ته ويل چې لږ پ ر ځان
ګرځه"ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

"هغه غریبه خو د ځان په فکر کې ګرسره نهٔ وي ـ داسې تك سپینه نجیلۍ وه چې را واده شوه ـ دا خو ګرده زما لپورهٔ تر دې حاله را ورسوله ـ ټوله شپه به یې ټکوله ـ هیروین چرس به یې په جوړول ـ دا بیخي کمه نجیلۍ وه،د ښځو ځای ته لا نه وه را رسیدلې چې مور را واده کړه ـ هغه به کالي ځینې کښلي وو، د اور داغونه به یې ور وکول ـ مور به د دې له ژړا څخه په غوږو کې ګوتې ن یږلې وې ـ بس دا وو چې هغه له ډیرو نشو مړ شو"ـ

"سلیمه!تهٔ چیري ځې؟"ـ

"ځم د مورکۍ خونې ته بیا بازار ته ځم،سودا راوړم ـ که ستا شی پکار دی راته ویلای شې"ـ

"سلیمه!تهٔ ولي له ماسره سمه ګپه نهٔ کوې ـ ما بد کار کړی دی که څنګه؟"ـ

"زهٔ اوس ځم دا د وروسته خبرې دي"ـ ذولیجه وچه ودریده ـ سترګې یې له اوښکو ډکې شوې خو دا هم پسې را ووتله ـ یور یې ښهٔ ځان سنګار کړی وو، د میړهٔ ګوټونه یې پالش کول ـ ذولیجې ورته کتل، تر خولهٔ یې هیڅ هم نه ووتل ـ دې هم دا ارمان در لودی چې ما هم د میړهٔ داسې خدمت کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وای لکه ورینداره چې یې کوي ـ هغه میرۀ یې په دروازه کې ولاړ وو، دا ورته ګډه وه ـ
دا بیرته د خوابې خونې ته راغله ـ سلیم خپل ګوټونه پالش کول ـ مور یې دباندې وتلې وه ـ ذولیجې ورته وویل"را یې کړه ګوټونه زۀ در پالش کړم"ـ
"تۀ ولاړه شه خپل کار وکړه ، نور مې مۀ تنګوه"ـ
دې د نغري لوښي سره ټول کړل،دباندې یې مینځل ـ
"ذولیجې ورینداري! تۀ د سلیم لالا ټوله کالي،شیان اوس لا خپلې خونې ته یوشه او ماښام چې راشي لږ ځان ورته جوړوه ـ تۀ په نارینه نۀ پوهیږې ـ تۀ به تر څو داسې چوپړ وهې"ـ
"اوس مې هیڅ ته هم زړۀ نۀ غواړي"ـ
"زۀ در پوهیږم خو ستا ژوند به تریخ وي ـ خدای به یو خوږه برخه در کړي"ـ
"دی هسې هم بل وادۀ کوي"ـ
"تۀ هم ماخوستن ځان ورته جوړ کړه ـ د دۀ به هم سر در خلاس شي"ـ ذولیجه موسکۍ شوه ، د خونې پر خوا روانه شوه او هم یې ماښام هغسې وکړل ـ ماښام چې سلیم خونې ته ورغلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ناسته وه. بل بالښته يې هم په پلنګ يښی وو خو د سليم سر خلاس شو.
د ذوليجې د مخ بڼه نه سميده. دۀ به اوس د نور کور څخه پټ پټ شی ورته راوړ ی خو دا ورځ په ورځ کمزورې کېدله. خدايه! دې ته اولاد ور کړې. خو د ذوليجې سترګې،ژړې ښنې او لاسونه نور هم تور واوښتل. سليم او مور دا د ښار غټې ډاکټرې ته راوستله. د ذوليجې ټوله معاينات يې وکړی او ټي.وي کي يې هم وکتله. څۀ وخت چې معاينات راغلل نو ډاکټرې مخ پر خواښې ورا وګرځولی "تاسو څنګه انسانان ياست. د دې ټوله وينه وچه شوکي ده بل يې ژړی په ټول بدن کي ګډ دی. مشکل دی چې د دې اولاد ژوندی پاته شي او د دې سړي دي اوس لاخپل معاينات وکړي. دا تور ژړی دی ، د دې ماښوم او سړي دواړو ته لګيږي".
خواښې يې حيرانه شوه "خدايه! دا دي څۀ غم راته جوړ کړی او د دې قسمت کي دي لانور څۀ ليکلي دي".
د سليم معاينات لاتر اوسه صفا وو. هلته يې حفاظتي ستنې ولګولې. څو ورځې يې ذوليجه داخله کړه بيا يې بيرته کورته بوتله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سلیم هغه بلې خسرګنۍ حال ورا تیر کړی چې تهٔ خپل واده وکړه ولي چې بیا د نجیلۍ مور او پلار د واړه حج ته ځي . دوی ټوله د واده په تیاریانو اخته وو. ذولیجه ګرځ بده خپل وس یې کولی خو په سلیم یې هم د مړوښي ارمان نه وختی. په مات زړهٔ ګرځیدله ، له سهاره یې نری نری درد کیدلی.

ماښام چې یې ډوډۍ پخوله نو دوه درې واره ځینې ولاړه شوه .خوابښې پر ږغ کړی "ذولیجې!دا ستا هم عجبه بخت دی ،نهٔ دي د پلار پر کور ښادي وکړه او نهٔ د خسر. تهٔ خدای د څهٔ د پاره پیدا کړې یې. څو واره له ډوډۍ پورته شوې".

"زما پر نس او ملا ډیر درد دی ځکه ولاړه شوم".

"تهٔ ولاړه شه لږ ارام وکړه. دا ډوډۍ به زهٔ پخه کړم".

ذولیجه چې څنګه خونې ته ولاړه ،وینه یې را شروع شوه،له وینې سره یې ما شوم هم پیدا شو. خوابښې چې یې ور ننوتله دا بیا پر بل حال وه. سترګې یې ولاړې،لاسونه یې وچ کلك لکه لرګی. کوشني لا یو ساعت بغارې کړې بیا هغه هم له دې دنیا سترګې پټې کړې.

"اې ذولیجې!تا به ویل چې هغه به هم ورځ وي چې زهٔ به پر کراره شم،وګوره نن څنګه کراره یې. نن دې د هغه پښې خولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارمان پوره شو ـ په دې حال کي دي د خپل تکليف حال نۀ
وويلی ـ خدای مو دي ستا له حقه خلاسوي ـ تۀ سر د مځکه
جنتي يې"-

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رنګ او څپلۍ

زرين ناګهانه له خوبه را ويښ شو . په ذهن   کې يې ډول ډول يادونه ګرځيدل . داسي نه وو چې دۀ سوچ نه واهو ،نه يې خپله تيره شوې زمانه ور ياديده    ،څو په دغه شپه د يادونو ډول د نورو وختونو له يادونو نه بيل وو . ګڼ شمير واقعات يې بې ترتيبه په دماغ کې وو . هغه چې به کله هم سوچ واهو ،په ويښه به يې واهو. تير شوی ښۀ يا بد دوران به ور يادېدو.

خو له خوارۀ خوبه ويښېدل او ناګهانه د سوچونو و يادونو حمله پرې کول اول وار وو . هغه فکر کاوو چې ماخوستن خو ما په دې هقله فکر هم نه وو کړی،بيا دغو سوچونو او يادونو ولې پاسولم،له خوبه يې ولې را بيدار کړم .

بيا  يې زړۀ ته تيره   شو چې کيدايي شي داسي خوب دي ليدلی وي چې ستا ياد نه وي،د هغه خوب تعلق        سئله ماضي سره وي او تۀ يې يو دم له خوبه ويښ کړی يې .

يو ځل هغه ور په ياد شو چې دی ماشوم وی، پلار يې د ښونځي تر مخ چهولې خرڅه ولې،دی به په نيمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

رخصتي(آدهي چهتي)له ښونځي را ووتو له پلاره سره به يې مدد کاوۀ. د چهول و پلېټونه او اوبه يې ماشومانو ته ور کولې. کوم ماشوم چې به له دۀ سره په يو ټولګي کي وو هغو به هم د دوی په ريړۍ کي چهولې خوړلې. دۀ به پلېټونه او اوبه ور کولې
بيا به مورکۍ ور ياده شوه چې هر وخت به ناروغه وه. بابك به دومره روپۍ نه درلودې چې د مورکۍ علاج يې کړی وای. د زرين سترګې له اوښکو ډکې کيدلې. دۀ داسي محسوسوله چې تر سوچونو مخکې يې هم ډير ژړلي وي، خو دۀ دا ټول سوچونه د خوب له کبله بلل. يو خوا خوب ورتلو له بلې خوا سوچونو او فکرونو خوب ته نه پرېښودو
..........
هځه يې کوله چې دا ټول سوچونه وشړي او ويدۀ شي،خو د هر څومره هڅه کولو پس هم سوچونو نه پرېښودو چې خوب وکړي. زرين پر پلنګ پروت وو بيا را کښېښستو چې کوز يې وکتل،هغه پنځۀ کلن زوی او کور ودانه يې په خوب ويدۀ وليدل. په خونه کي ښه درنه خاموشي خوره وه. يوه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بوالۀ ګهړ وه چې ټك ټك يې کاوو او بل د د دۀ زړۀ وو چې ډب ډب يې کاوو.
بيا هغه وخت ور په ياد شو چې اسلم کاکو يو ورځ سهار وختي د دوی د کور دروازه،په له پسې په زوره زوره ټکوله چې دی ور وتلې ليا نه وو،هغه حکم وکړی چې "پلار دي را وغواړه". بابك هم له کوره راووتو.
"خير خير اسلم جانه! دا شين سهار او دومره په تاؤ ور ډبول".
"د چيش شي خير، پنځۀ کاله مخکې چې د کوم پور رانه کړی وو،هغه پيسې راکړه، بې شرمه سړيه. شرم خو تۀ نه لرې ،خامخا سړی دې ته مجبوره کوې چې سړی کورته در شي. د کور کمبلې،بشترې مشترې را وباسې".
بابك له خشمه شين او سور شو خو بيرته يې خپله غصه قابو کړه. کورته ننوتی. دکورروغې کمبلې يې اسلم کاکو ته ور کړې. زرين ته هغه ورځ خاص هغه رنګه ور په ياد شوه،څنګه چې پر دۀ تيره شوې وه. اوښکې يې پاکې کړې،زړۀ يې ټوپونه وهل، د بابك معصومه څهره يې مخ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلې دورې کیده ـ د بابك خاموشي او د اسلم غوړمبی یې له دماغه نه وتو.

بیا یې هغه ورځ ور په یاد شوه چې مورکۍ ډیره ناروغه وه،بابك له څو ورځې ریړۍ له کوره نه ویستله ـ د مورکۍ د وفات کیدلو،د اسخات وشلو او فاتحې، سوچونو خو دومره خراب کړی چې له پلنګه را کوز شو،له خونې بهر را ووتو.

اوبه یې وڅښلې،مخ یې ومینځلی ـ په کلا کې یې یو څو قدمونه واخیستل،بیرته راغلی خو سوچونه یې له دماغه څخه نه ووتو. بیرته پر پلنګ پرې وتو.

بیا یې خپل ماشوم زوی ته پام شو چې تلتك (بړستن ) یې غورځولی وو ـ دی بیرته له پلنګه څخه را کوز شو، د زوی پر سر یې لاس ور تیر کړی او تلتك یې پر سم کړو،سر ته یې کښېنستو.

بیا هغه وخت ور په یاد شو چې په اختر کې به ټولو ماشومانو نوې نوې څپلۍ او نوې کالې کړې وو. خو دۀ به هر وخت د کوشني اختر څپلۍ په لوی اختر او د کوشني اختر کالي په لوی اختر اغوستل ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا هغه څپلۍ ور یاد ي شوې چې اوس هم دهٔ د برنډې په
چت کې خوندي ساتلې وې.
د کوشني اختر ورځ وه،لمر لانه وورا ختلی. په دغه اختر
زرین نوې څپلۍ نه درلودې. د تیر کال د اختر سپیرې
څپلۍ یې وې چې پر دهٔ لږ څه کوشنۍ شوې هم وې. زرین د
نورو څپلو غوښتنه کړې وه. پلار یې ډیر خاموشه وو،هیڅ
جواب یې نه درلودی. مورکۍ هم خاموشه وه دلته بیا
دزرین په زړهٔ تنا راغله،ټول بدن یې رېږ شو.
د بابك هغه خبره یې داسي یاد وه لکه اوس اوس چې یې
ورته ویلې وو.
"زرینه زویه!هغه تاسو چې خط په کاږی،هغه رنګ اوبه څهٔ
نومیږي".
"هو لرم یې. بابکه!هغه ته توره ساهي وایي".
"هغه را واخله .......... او ستا د تیر د اختر څپلۍ هم را
واخله.........".

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځوك به ملامت وي

" پښتې خورې چې راتلې یوګلاس اوبه راوړه.

عدنانه ! په ځواره مې درته ویلې دې ماته په خور مهٔ وایه ،مهٔ وایه ـ تهٔ ولې سر نه خلاصوې ـ خیر بل وار به په ترله درته وایم" ـ

دا له خندا شنه شوه ووته چ ې اوبه یې راوړې ، وعدنان ته مخامخ کښېنسته " تهٔ اوس پوهېږې نه که په قصد کوې" ـ

" نه پښتې! ښه پوهېږم ، ما چې چړۍ سبق ویلو هلته خلګو د اکا ،ماما په کورنیو کې واده نه کولو ، شناخت یاري لا څه کوې ـ ولاړه شه کاکا یا تیندار به دې ووینې ،نه به په تا کې څهٔ پاته شي نه په ماکې" ـ

" ګوره عدنانه ! زهٔ له تا سره شناخت ،یاري نهٔ کوم زما د واده نیت دی ـ تهٔ د نورو په دود او دستور له ما ځان مهٔ خلاصه وه ـ پر ما بل مېړهٔ داسې دی لکه زلمی ورور" ـ

" ځه ولاړه شه ، پر مخ به داسې ځاپېړه در کړم چې یاد به یې لرې ـ تا ډاکټري د دې د پاره وکړه" ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

" نه د دې د پاره چې ځان اوخلګ ټول له مشکل او ناروغي څه وژغورم . ګوره عدنانه ! ته به له ما سره واده کو ې ګني داسي چل به درسره وکړم ، په ځان به حېران يې . اوس ووځه چې څۀ دي په وس وي کوه يې" .

ښتنې دا چل شروع کړی چې عدنان به دننه لا نه و و راغلی، دا به بيا د عدنان په خونه کي وه . عدنان چ ې به په خونه کي يوځای سره ېنبي کتابونه خواره واره وليدو ، ډېره خوابه يې بده شوه ، د اکا و تنداري په وجه يې ښتنې ته څۀ نه شو ويلای .

يوه ورځ چې يې هغه عکس پر کتابونو برسېره ېنبی وليدو چې د ی د دوو نجونو په ميان(منځ)کي ولاړ وو، ښتنې ته يې پر مخ داسي څاپېړه ور کړه چې سترګو يې اوښکې وکړې .

ښتنې غبرګ پر وګرځوله " عدنانه ! ستا څۀ خيال دی، ته به په څاپېړو ما له ځانه ېبله يا لېږي کړې" . عدنان دا هڅه کوله چې له ځانه يې ل ېږي کړي ، تنداره په دروازه کي ودرېده " ښتنې! ما په څۀ پسې ولېږلې، ته څه کوې" .

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتنې د مور له خبرې سره سم عدنان پرېښودی . عدنان لاس له خولې واخیستو چې څه پر خولۀ ورتلو هغه یې ویل . دا راغله په دروازه کي ودرېده ، یو لاس یې پر دباندې د پوال ینبی بل یې د دروازې پر چوکاټ، له خنداشنه وه .
" نه مې درته وویل، اوس ښۀ شوې" . عدنان ور ولاړ شو ، دې داسې منډې کړې لکه له یو ماشوم سره چ ې بازۍ کو ې .
ماخوستن د پښتنې مور دا ټوله کیسه ، د پښتنې پلار ته وکړه .
" ښځې! دا خبره دې پر ځای پرېږده، پر خولۀ لاس ونیسه " .
سهار د پښتنې پلار عبدالمنان، خپل مشر ورور عبدالمناف د عدنان پلار ته دا ټوله کیسه وکړه چې دا هلك او نجلۍ دواړه هره غرمه په خونه سره ننوتي وي . دی نه وي سبا یو بدنامي را واړه وي ، را رواڼې جمعې ته به یو څو کسه را وغواړو، دوستي به سره وکړو . سمه ده وروره!" .
ماخوستن عدنان ناست وو چې عبدالمناف خپل ې ښځ ې ګلدستې ته د دوست ۍ کیسه کوله . عدنان خلاص کړی کتاب سره واړاوو " نه بابا! زۀ له پښتنې سره واده نۀ کوم" .
" شرم وکړه، تۀ څنګه زما و د مور په کارو کي رغېږې" .

(c) ketabton.com: The Digital Library

" بابکه! ما درته وویل" .

" هلکه لګوار شه ، ولي په ما هغه خبرې کوې چې مور دي نه ده په خبره" .

عبدالمناف د عدنان تر مخ د پښتنې،تندارې اکا کیسه و مور ته تېره کړه .

" بابکه! دا یوحقیقت دی چ ې تندار ې پښتنه له ما سره داسي ولیدله . له حقیقته سترګې نه پټېږي لیکین خبره داسي نه داسي ده ....... . بل ما له یوې پېغلې سره و عده کړې ده چې تهٔ د ډاکټرۍ ډګري تر لاسه کړې ، هغه وخت زهٔ له تا سره واده کوم" .

" ښځې! تهٔ د دهٔ عذ ر پرېږده، دی به خود یو عذ ر کوي . تا به تر اوسه داسي پېغله لیدلې څه ، اورېدلې نه وي چې مور او پلار دي په خبر نه وي، دا له یو هلکه سره واده کوي" .

" بابکه! دا ستاسو وخت نه دی . اوس داسي وخت راغلی دی چې هلك و نجۍلۍ سره خوښ کړي ، خپلو کورنیو ته ووایي چې مورږ واده سره کوو" .

د عد نان خبر ې چا اورېدلې یا یې منلې . د جمعې ورځ راغله، خلګ راغلو دوستي و شوه . ټولو راغلو خلګو

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالمناف ته موبا ركي ور كوله. پښتنه دومره خوشاله وه ،هغه د چا خبره " پر يوه پښه څرخېده". د عدنا ن په زړهٔ يو لوی خدای ښهٔ خبر وو. نه په كور مځك ې د ناستي ځای وركاوهٔ، نه پر بيابان.

تمامه ورځ به يې په ولاړي تېره كړه ، دلته لاړ شي هلته لاړ شي. شونډان يې پرې شوې. تمامه ورځ به يې په دې سوچونو تېره كړه چې " پښتنه پرېږدم كه ډاكټرحسينه . نه حسينه څنګه پرېږدم ، يو خو زما ډېره خوښه ده بل مي وعده ور سره كړې ده. يا راشي پښتنه پرېږده ، نه نه څنګه يې پرېږدې . د هغه پلار،اكا بدنامه كوې چ ې ټول خلك يې د انسانيت او شرافت په صفت نه مړېږي " . په دې كي د عدنان له هډو نيمه غوښه توي شوه. كوږدې يې په دې اخته وه چې د دوی د واده تياري وكړي.

پښتنې ته بيا هم كيسې ته ردك نه ور كاوه. دا يې پوره يقين وو چې " عدنان ناروغه دی ، يو ډاكټر ته يې وړی وای .ولي ټوله كوږدې باك نه په كوي".

عدنان چ ې يوه ورځ په سوچونو كي ورك وو. موبائل نمبرو ته يې نه وكتل، پورته يې كړی " هلو،حسينه څنګه يې؟".

(c) ketabton.com: The Digital Library

" تهٔ دا خبرې پرېږده، تهٔ دا فون ولې نه پورته کوې ،درسته کال وشو۔ ګنټې درځي تهٔ فون نهٔ پورته کوې" ۔
حسینه " زهٔ څهٔ درته ووایم ۔ عدنانه ولې خیر خو به وي" ۔
" هو هو چې راشې درته وبه وایم" ۔
" نه نه اوس اوس به راته وایې" ۔
" حسینه! زهٔ خو په دې بلا اخته شوم .........." ۔ تهوله کیسه یې ورته وکړه ۔
" عدنانه ! تهٔ په دې زما فون نه پورته کوې ۔ ما نه غوښتو چې تا پرېشانه کړم" ۔
" خیر دی چې زهٔ ژوندی یم له مړه ماره مهٔ وېرېږه " ۔ فون بند شو۔
یو ماځیګر سپین موټر راغلی، یو سړی و ښځه په کې ناست وو۔ د دوی په ګېټ کې ودرېدو ، د عدنان بابا ور ووتو ۔ ښځې و سړي دواړو د عدنان له بابا سره په لاس روغبړ وکړو۔ باباپه دې سوچونو یوړی چې " ښځه او په لاس روغبړ" ۔ ښځې پر بابا ږغ وکړو " بابکه! ولې په سوچو کې ورک شوې بل وخت مېلمانه نه دي درته راغلي که څهٔ" ۔
" نه لورې! راځي" ۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

" بابا عدنان کور دی" .


" یا لورې! هغه خو دا ډېرې ورځې کېږي چې پر بله خوا تللی دی. تاسو راځئ کور خو یې په شا نه دی وړی" .

" نه بابا چې عدنان نشته ، موږ نه کښېنو" .

" خیر لورې! له عدنان سره مو څۀ کار وو" .

" هو دا مي بابا دی، عدنان مي په لیدلی . ما وعدنان د واده خبره سره کوله چې دی څۀ وخت تیاردی" .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**